# زمونږ
# کلي او
# باندې

www.momandpublications.com

ليکوال:

سميع الدين افغاني

Ketabton.com

۲۰۱٦ م کال - مهاجرت

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم:** زمونږ کلي او بانډې

**ليکوال:** سميع الدين افغاني

**خپرندوی:** مومند خپرندويه ټولنه – جلال اباد

**برېښناليک:** Momand.books@gmail.com

**ډيزاين چارې:** ايمليار ساجد

**چاپ کال:** ۱۳۹۵ لمريز – ۲۰۱۶ ميلادي

**چاپ وار:** لومړی

**د چاپ شمېر:** ۱۰۰۰ ټوکه

**چاپځای:** د مومند خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه


پتې

**د چاپ حقوق له خپرندويې ټولنې سره خوندي دي.**

**ننګرهار:** عبدالمجيد مومند کتابپلورنځی – مخابراتو څلورلاری

اړيکې: ۰۷۰۰۶۲۶۱۶۱ – ۰۷۷۷۶۲۶۱۶۱ – ۰۷۸۱۶۲۶۱۶۱

**کابل:** اصلاح افکار کتابپلورنځی / دارالسلام کتابپلورنځی / مستقبل کتابپلورنځی / پکتوس کتابپلورنځی / اکسوس کتابپلورنځی/ سروش کتابپلورنځی. **پکتيکا:** مجاهد کتابپلورنځی/ اريانا کتابپلورنځی. **کندهار:** امير کروړ کتابپلورنځی / افغان کتابپلورنځی/ عرفان کتابپلورنځی. **خوست:** غرغښت کتابپلورنځی / رحيمي کتابپلورنځی/ سباوون کتابپلورنځی/ ژوندون کتابپلورنځی/ ابدالي کتابپلورنځی/ لېوال کتابپلورنځی/ غازي کتابپلورنځی/ شيخ زيد کتابپلورنځی .**هلمند:** سيدجماالدين کتابپلورنځی / تاج منور کتابپلورنځی./ **پکتيا:** علمي کتابپلورنځی/ روحاني بابا کتابپلورنځی.**غزني:** قيومي کتابپلورنځی. / **لغمان:** يونس کتابپلورنځی. / **مزار شريف:** ثقافت کتابپلورنځی.

www.momandpublications.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

www.momandpublications.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه

محترمو لوستونکو !

پدې کتاب کې د لغمان په اړه دهیواد د معاصرو څیړونکو اولیکوالانو معتبره تاریخي لیکنې او کره مطالب راټول شوي دي چې ددې مطالبو یادونه پدې کتاب کې لازمه او ضروري ګڼل کیږي٠ هیله ده چې ددې مطالبوپه راټولولو سره مو د تاریخي لغمان په اړه درنولوستونکوته دپام وړمعلومات برابرګړي وي ٠

دمولانا دکتور محمد سعید سعید افغاني یادداشتونه٠

دښاغلي شهسوارسنګروال لیکنه دلغمان لرغونی تاریخ اوجغرافیوي موقعیت٠

دښاغلي پوهنیار ظفراهتمام لیکنه لغمان دلرغوني تاریخي اوفرهنګي شالید په رڼاکې٠

د ښاغلي نجم الدین سعیدي لیکنه لغمانۍ اوګره او دهغه ډولونه٠

او همدارنګه د افغان ننګ د ښکلې پاڼې د قدروړ او بادرده کارکونکوپه خاصه توګه د ښاغلي اجمل اکبری صیب نه دکتاب دتنظیم او برابرولو په برخه کې د زړه دکومي مننه کوم اوکور ودانی ورته وایم ٠

پدې برخه کې د هغو لیکوالانو لیکنې چې په کتاب کې ورته ځای ورکړل شوي دي ، د دوئ تاریخي او څیړنیزې لیکنې اوهمکارۍ دیادولو، مننې او د پام وړ وګنم٠

سمیع الدین افغاني

www.momandpublications.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

محترمو لوستونکو !

لکه څنګه چې هرانسـان دخپل دژوند ، کوچنی والي اوستریدوخوړې اوترخې خاطرې په خپل ذهن کې له ځانه سره لري اوبیا هر څومره چې د انسانانوعمرمخ په زیاتیدو شي دکلي،کور،ښوونځی اوټول هغه چاپیریال چې انسان پکې سترشوی اود ژوند مختلف پړاوونه یې پکې تیر کړي دي ، تل هغه یادونه او خاطرې ورته په سترګو کیږي او دا یادونه هغه وخت ډیر شي چې انسان دخپلو کلو او باندو او ټاټوبي څخه لرې په پردي هیوادونو کې دمساپرۍ اومهاجرت شپې اوورځې تیروي٠

زما د دغې لیکنې اصلي موخه هم دا ده چې د«زموږ کلي اوباندې» کتاب ترسر لیک دهیواد د مشرقي سیمو پرګنیز کلتور ، رسمونو او رواجـونو سره د اشنا کیدو ترڅنګ عـامیانه او کلیوالي اصطلاحاتو ته خاصه پاملرنه شوې ده ترڅو له یوې خوا دغه عامیانه اصطلاحات مو ژوندي ساتلي وي اوله بـلې خوا ددې اصطلاحاتوپه کارولوسره د کتاب لیکنو ته پرګنیز رنګ اوخوند ورکړی وي ٠

همدارنګه ددغــې لیکنې لوستل تر ټــولو د مخه هغه ځوان نسل ته سپارښتنه کوم ،کوم چې په وطـن کې دڅو لسیزوکورنیوجګړو اود بهرنیو دلاس وهنو په پایله کې دهیواد څخه بهره ته مهاجرتونو ته اړباستل شوي او هلته ستر او دخپلو کلو ، باندو ، کلیوالي ژوند ، دودونو اورواجونو څخه لرې پاتې شوي او کمه پیژند ګلوي ورسره لري ٠

هیله ده چې دغه کوچنۍ ډالۍ د درنو لوستنکودپاملرنې وړ وګرځي٠

په درنښت

سمیع الدین افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# د خاپوړو کلي

**لنډه پيژندنه:**

زه سميع الدين افغاني دارواښاد علامه مولوي دکتورمحمد سعيد سعيد افغاني ځوی دخدای ښبلي مجاهدمولوي عبدالمجيد لمسی په کال ۱۳۳۳ هجري شمسي کې دلغمان ولايت دعمرزيودخيراباد‌په کلي کې زيږيدلی يم ۰

**ښوونځی ته د شامليدو دوره:**

ځرنگه چې زما پلارد لغمان دعمرزيودسيمې ځخه اومورنی نيکه مې دهمدې ولايت دچاردهي په سيمه کې هستوگنه درلوده، نوچې کله به پلاردکاريا وظيفوي مصريفتونو پربنا چيرته کې لرې مسافرشونومونږ به په خپل اصلي د زيږيدو ځای «عمر زيو» او يا په چهاردي کې د «ملاصفت » په کلي کې دخپل مورنی نيکه سره هستوگنه اختيارکړه، نوهمدا وجه وه چې اکثرا کليوالي ژوند او دځوانی عمرمې دلغمان په همدې دواړو سيموکې تيرشوی دی .

زما مورنی نيکه خدای ښبلی گل احمددارواښادملا صفت ځوی دلغمان دچاردهي دصفت دکلي په شاو خواکې لس،دولس جريبه ځمکه لرله، ځرنگه چې د لغمان ولايت مساحت د وگړو په پرتله کوچنی دي ، نو هلته دولس جريبه ځمکه لرل د گذاری خبره وه ۰

دبلې خوادغه ځمکې دوه فصله اودري فصله دي چې په همدې ځمکو کې غلې دانې دغنم،جوار،اوربشې،شولو نه رانيولې بيا تر گني ،پياز،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کچالو،توربادنجان،بادرنگ،رومي بادنجان اونور رنگارنگ حبوبات،ترکاري په مختلفو فصلونو کې حاصل ورکوي٠

**قلعه صفت (د ملا صفت کلی)**

په هغه کلي کې چې مونږ اوسیدلو داستانې بابا زیارت،اخوند کلی او باغمرزا د کلو په مرکزیت کې یې موقعت درلود چې دملاصفت دکلي په نامه یادیده اود شلو کورنیو په شاوخوا یې پکې هستوگنه درلوده٠

دکلي اوسیدونکي پاک زړي اوبا دیانته خلک وه چې دټولو یو مشترک جومات وه ٠

جومات ته به دکلي سپین گیري ، ځوانان او هلکان د لمانځه لپاره راتلل دجومات ملابه دکلي خلکو ته دجمعې دلمونځونو دادا کولو څخه برسیره د کلی هلکانواوماشومانو ته هرسهارد قاعده یی بغدادي الفبا ،پنج کتاب، قرانکریم ،قدري ،تفنگسایه،تفسیر،گلستان، او دنورودیني کتابونو تدریس کاوه ٠

د کلي خلکو ساده او بې الایشه ژوند درلوده ، په ورځنی کارونو کی ربښتینولی اوصداقت مهم اصل گڼل کیده اوپه مشکلاتو کې به یې یودبل لاس نیوی کاوه،خوکله به بیایو نیم داسې مکاره هم پیدا شو چې دکلي ټول اوسیدونکي به ورسره په عذاب وه٠

زمونږ سره لکه د کلي د نورو اوسیدونکو په څیر د کلیوالو مروده او راشه درشه ښه وه، ټولو به زمونږ مورنې نیا ته ادې او نیکه ته د بابا خطاب کاوه ٠زمونږ په کلي کې یوه سپین سرې ښځه وه چې د «هوا مور» یا بي بي هواپه نامه یادیدله چې دکلي خلکو به ورته دجلیل مور هم خطاب کاوه ٠

د کلي دجلیل مورچې دژوند سړې تودې ډیرې لیدلې وې او په کلیوالي ژوند کې د ښو تجربو خاونده وه ، سر به یی مدام په تورې پټی تړلی وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



توری جامی به یی په تن کولې ،هغه به کله کله زمونږ کورته راتلله ۰هغې به دهلکانو د درملنې لپاره ښې ټوټکې درلودلې۰دبې ځایه اومات شوولاسونواوپښو د جوړولوپه برخه کی یې پوره مهارت درلوده اوپه دغه برخه کی دښه شهرت او تجربو خاونده وه ۰

هغه به کله چې د کلا انګړ ته راننوتله، هلکان به دهغې سره د سلام ورکولو او روغبړ وروسته تری چارپیره کیناستل ،دجلیل مور به هم هلکان نازول هغې به د چا سر دماوه اود چا د بې ځایه شوي لاس یا د پښو ګوتو ته ماساژ ور کاوه ، هغه داسې چې یوڅه مالګه به یی په ګرمواوبوکی ښه حل کړه،بیا به یی ورو وروبی ځایه شوی ځای به په مالګینې اوبومینځه او بیا به یې په دواړه لاسونو مساژورکاوه چې په همدی ډول به یی په پوره مهارت سره پرځای کوه۰

دجلیل مورپه همدی کارکې په شاوخوا کلواوباندو کې ښه شهرت پیدا کړی وه او خلک دلرې ځایونو څخه ورته دمعالجې لپاره راتلل۰

زمونږپه کورکې هم لکه دنوروکلیوالوکورنیوپه خیردمیلمه ښه درناوی اوپالنه کیده ،میلمه ته به برسیره پر هغه څه چې په کورکې معمول وه اضافي خوراک اوڅښاک هم برابروه اودمیلمه مخې ته به یې ایښودل،خوکه میلمه به موږ وه نو دخوږو تورو او شنو چایو څښل به حتمی خبره وه،چې زمونږپه کلواو باندوکې دچای سره دبورې اونوروخوږو تر څنګ دګوړې اوپتاسو رواج هم معمول وه ۰

د ګوړې جوړول په لغمان کې دزمینداره خلکو رواج وه، دوئ به څو بسوې ځمکه دګنیودکرلپاره اماده کړه ،چې په هغه ځمکه کې دګنیوتر دکرلوترڅنګ بادرنګ،پیاز،مرچ،رومي بادنجان اونوروترکاریونیالونه هم یوځای کرل، همداچې دبادرنګواونوروترکاریوحاصلات به واخستل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوګنیو به سر را جګ کړی وه اوکله چې به بیا ګنی ورسیدل اود استفادې وړبه شول بیا به دګوړې جوړولوتدابیرنیول کیده، هغه داسې چې په لغمان کی دګوړې دجوړولوماهرانودګنیو ګاڼې یا دحلاجي کولو سیارماشینونه درلودل٠

دغه ماهرانو به کله چې ګنی دګاڼی یا د حلاجي ماشین څخه وویستل ، د ګنیو شربت او یا شیره به یې مخصوصو بټۍ ګانو ته ور شیوه کوله چې ددې بټۍ ګانو لاندې به اور لګیدلی وه ، کله چې به دګنیو شربت د اوردتودوخې په وجه نیمه جامد شکل اختیارکړپس له یومعین حرارت څخه به یې یو څه نورې مسالې ور ګډې کړې چې ورو ورو د حلوا په شان نرمه ګوړه (کنډ) او وروسته دسړیدلو څخه کلکه اوخوند وره ګوړه ورځنی جوړوله٠

کله کله به یې د ګرمې ګوړې په سره وچې میوې لکه پسته ، بادام ، چارمغزاونوری مسالې وراضافه کړې چې هغه به یی مساله داره،پسته ای ، بادامی یا چار مغزی ګوړه بلله٠

په همدی ډول ګوړه زمونږ دکوچنیـوالی یواځینی دعلاقې وړ خوندوره شیرني وه چې هلکانو به د ډیر استعمال په وجه خپل غاښونه پرې چینجن کول٠

د کلي هلکانو دمشرانو احترام ساته ، هغوئ ته به یې د کاکا ، ماما او تور سروته به یې د کاکا ناوې،ماما ناوې یاخاله خطاب کاوه٠ دکلي مشرانو هم دتعلیم ترڅنګ دهلکانو تربیې ته خاصه پاملرنه درلوده ٠

د کلي دهلکانو سره تعامـل دا وه هرچاچې به سهار ځاروي پیولو ته بیول د مستو ککړه او دکوچکوځګ به په سبا ناري کې حتمي خبره وه ،نوهلکانوبه کوشـش کاوه چې سهار وختـي دخوبه پاڅیږي اوځاروي پیولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته بـوزي ځکه چې دمستو ککړه اودکوچوځګ په سبا ناري کې ځانله خوند او مزه درلودله٠

په کلي کې دشير واررواج هم وه هغه داسې چې دکلي درى يا څلورو کورنيو به چې د شيدو غواوى درلودلى په وار سره يوې کورنۍ ته د خپلې غوا شيدې ورکولې چې يوه اونۍ به د يوه کور او بله اونۍ به دبل کورچـــې په ترتيب اووارسره د ټولوهغه کورنيو چې په شير وار کې يې ونډه درلوده واررسيده، چې هرې کورنۍ به دخپلوشدوکټې واهه او انداز ه يې معلوموله چې بيا په همـــاغه اندازه دمقابل لوري څخه شيدې په خپل وارکې تر لاسه کړى٠

دکلي هغه ښځې چې په خپلو مينځو کې يې شير وار اچولى وه نوکله چې به دسهار لمونځونه وشول بيا به دکوردبيالې ترغاړې په لويو متۍ ګانو کې دمستوډکې کټوې خالي کيدې او د کلي ښځوبه دمندانو په واسطه دامستې په وارسره شاربلې ترخوځګ به يې دمستو څخه جلا اوبيا به يى دچانۍ په واسطه په بله مخصوصه متۍ کې ترهغه پورې شاربلې تر څودځګ څخه به يې کوچ جلا اوپاته شرمبه به يې دکلي نوروکورنيوته په خاصه توګه هغه کورنۍ ته چې دشيدوڅاروي يې نه درلودل ويشل کيدې٠

دکوچويا دغواغوړى چې په زيړوغوړوهم يادېږي ډيربا ارزښه وه چې اکثرا کورنيو به په ورځينۍ خوراک کې مصرفول ، همدارنګه يوشمير کورنيو په دخپل داړتيا زيات کوچ اوغوړى خرڅول اوپه مقابل کې به يې دکور نور ضروري شيان پرې رانيول زمونږ دعمرهلکان شپږ اوه ميله لرې ښوونځۍ ته تلل، زمونږکليوالي ښوونځۍ چې تردريم ټولګي پورې يې شاګردان روزل دحيدرخانيودکلي په جومات کې موقعيت درلود اواستاد شيراحمد ددې کليوالي ښوونځۍ ښوونکى وه٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تير يادونه

خــړ ســيندونه سيلابونـــه مــې يــاديږي
د وطــن شــنه شنـــه فصـلونه مــې يــاديږي

د ودونـــــــو او دودونـــــــو رواجـونـــــــو
هــا ديــرې هــا مجـلسونــه مــې يــاديږي
ســندريزخوږی نغمـــې دحجــرومينځ کــې
هــا گــيسونـــه او کـټونــه مــې يــاديږي
د مـرغيوگــــــڼه گــوڼـــــه او سيـلـــــونه
د چــق مــق ټوپــک غږونــه مــې يــاديږي
پــه جــوزا کــې د تـوتانـــو پــه موسـم کــې
د فـصــــلونو درمنــدونـــــه مـــې يـــاديږي
مصــلی اوددرمنــد شــاخی پــه لاس کــې
تورچنگړلـوی لــوی چجونــه مــې يــاديږي
ددهقــان پــه لاس چــې تيگـه دميــزان شــي
لپـــکۍاو خــجورونـــــه مـــې ياديـــــږي
د چـــينی نــه د اوبــو منگـــی پــه ســرکې
هــا د پيـــغلو کتـــارونه مـــې يـــاديږي
مـــړ اوبــــل داوربلکـــو الـــوتـــنې
د بـامـــو د ســـر خـــوبونه مـــې يـــاديږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اختر کې د ځوانانو ډلې ډلې
ها میلې او اتڼونه مې یادیږي
د پی مخو ښکلو پیغلو بیر اوبارکې
هغه لوی لوی زیارتونه مې یادیږي
رنګ په رنګ ښکلې جامې دطاعتونو
په مسجد کې ښه وعذونه مې یادیږي
څومره ښکلې څه ښایسته کلي باندې دي
جم او جوش دبازارونو مې یادیږي

یادول یې زیاتوي د زړه دردونه
افغاني ها تیر وختونه مې یادیږي

۱۲-۱۲-۱۹۹۸
مهاجرت

### د حیدرخانیو کلی اوجامع جومات

په لغمان کې د حیدر خانیو کلی اوجامع جومات زمونږ دکلي څخه د څلورمیلو په شاوخوا لرې واټن درلود چې زمونږ دکلیوالي ښوونځی درسي پرګرامونه دلته په همدې جومات کې تر سره کیدل او استاد شیراحمد ددې ښوونځی یواځنی ښوونکی وه چې دتدریس او اداري چارې یې پر مخ بیولې ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library





دحیدرخانیو کلی په هغه وخت کې دلاسی صنایعو په برخه کې ښه شهرت درلود،هلته صنعت کارانو ښکلې چړې اوچاقو ګان جوړول چې ښایسته لاستي به یې ورته برابرول اوهمدا رنګه دخمتا په اوبدلو کې یې هم خاص ځای درلود، دحیدرخانیود کلي دخمتا تولید نه یوازی د لغمان په بازارونو کې بلکه ز مونږد هیواد په نورو ولایاتو کې هم ځانګړی بازار او ارزښت درلود۰

زموږ دعمر هلکان دحیدرخانیو کلیوالي ښوونځی ته شاوخوا د ٦-٧ میله ځخه لرې دزدکړې په مقصدراتلل اوتردریم ټولګي پورې شاګردان پکې په زدکړو بوخت وه ۰

د حیدرخانیو په کلیوالي ښوونځی کې هغه وخت په اوسط ډول دسلو شاګردانو په شاوخوا زده کړې کولې چې په درې درسي صنفونو یعنې په لمړي ، دویم او دریم صنفونو کې په تعلیم بوخت وه لکه مخکې چې مو وویل د ښوونځی ټولو درسي صنفونو لپاره صرف یو ښوونکی وه ، او استاد شیر احمدخان کولای شول چې د ټولو شاګردانو درسي نصاب او پرګرامونه په ښه توګه پر مخ بوځي او دشاګردانوستونزې او مشکلات په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل وخت حل کړی٠

درسي کتابونه ټولوته نه رسیدل،کله به د یودرسي کتاب څخه څو شاګر دانو په شریکه استفاده کوله ٠

استاد شیر احمد به د دریم ټولګي لایقه اوپوه شاګردان دهغود تدریسي پروګراموترڅنګ په لمړي اودویم ټولګیو کې وګمارل تر څو افتخاري درس ورکړي چې دې کار که له یوې خوا لایقه شاګردان د تدریس د میتود او روشونوسره اشنا کول له بلې خوادغه شاګردانو داستاد شیر احمد سره د تدریسي پرګرامونو په عملي کولو کې ډیرښه او مثمر رول لوبوه ٠

مونږ چې دقلم ،کاغذ او نوروقرطاسیوي موادونشتوالی احساسوه نود کاغذ پر ځای مو دوړې تورې تختې څخه چې دخپلوکتابونو سره به مو یو ځای کورته وړله اوراوړلـه استفاده کوله، هغه داسې چې هرشاګرد به دا وړه تخته ، دکړکو قلم اومشوانۍ چې دغنمو سیاهي به پکې وه له ځانه سره لرله، شاګردانو به د درس دشروع څخه څو شیبې دمخه دا تخته داوبوسره دجومات یا ښوونځۍ په ویاله کې مینځله اووروسته به یې دتختې مخصوصه خټه پرې وهله او دلاس په څنګل به یې دا خټه په تخته کې هواره کړه،کله چې دا اوبلنه خټه په تخته کې په مساوي ډول هواره شوه بـیا به یې لمرته د وچیدو په موخه په مناسب ځای کې ایښودله چې وروسته د څو شیبوبه دا تخته وچه او لیکلو ته اماده شوه٠


په ښوونځۍ کې د دنیات ، قرانکریم او حساب ترڅنګ حسن خط ته خاصه پاملرنه کیده چې په همدې تخته کې به مومشق او تمرین کوه ،الفبابه موپه مشقي توګه په کې لیکله بیا به مو ښوونکي ته د اصلاح لپاره ښودله چې په همدې ترتیب اوطرزدکارکې شاګردانو خپل مینځي رقابتونه هــم درلودل،هغه یو شاګرد بــه ویل چې زه یې ښکلی لیکم اوهغه بل به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل چې زه یې ترتا ښه لیکم په همدې ډول دحرفونو،جملو او مقالود لیکلو سیالی د شاگردانو په مینځ کې روانې وې ، یو شمیر نوروبه بیا په دغه تخـته کې خپلو خپلوانو ته لکه پلار ، ورنو، کاکا ، ماما اوملگرو ته دخطونودلیکلومشق او تـمرین کاوه او ادبي جملې او اصطلاحات به یې پکې کارول همدې درسي رقابتونوزمونږ د ښوونځی دشاگردانو دتدریس سطحه لوړه ساتلې وه چې په سیمه کې خورا ښه شهرت درلود او ډیر مرزایان ترې فارغ شول٠

استادشیراحمد چې دلوړقداوقامت خاوندوه ډیرمهربانه اومدبر ښوونکی وه٠ هغه به کله کله تر ښوونځی پورې زمونږ د لارې مل وه په لاره او ښوونځی کې به یې دنصیحت ډکې خاطرې له مونږسره شریکولې ٠



**مرحوم شیر احمد خان زمونږ د کلیوالي ښوونځې د قدر وړ استاد**

استاد شیراحمدخان تل هڅه کـوله چې دشاگردانودرسي ستونزې او نیمگړتیاوې حل کړي ،استاد د شاگردانو تدریس اوپوها وی ته خاصه لیوالتیا او پاملرنه درلوده چې د دوئ د زحماتو له برکته د لغمان ډیری ځوانان د علم او پوهې لوړو مدارجو ته ورسیدل ، ټولنې اوهیوادوالو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمت مصدر وگرځيدل٠

استادشير احمدبه شاگردانو ته تل دپنداومعنى ډکې خبرې او نصيحتونه کول او په دې اصل به يې ټينگار کوه چې :

د تعليم سره تربيه ضـرور ده او مـونږ بايـــد دې اصل ته ډيره پـــاملرنه وکړو، که څوک تعليم ولري اوتربيه ونه لري مکمل انسان نه دی اوپه ټولنه کې ځای نلری همدارنگه بې تعليمه انسان نه شي کولای چې خپلې ټولنې اوخلکوته دخدمت مصدر وگرځي اوپه ورځني ژوند او چارو کې پوره برياوې تر لاسه کړي٠

## کليوالي ژوند اودځوانانوبوختياوې

د لغمان په کلواو باندو کې دخلکو ژوند دزحمته ډک ژوند وه ،هلکان به کله چې د ښوونځی له درسونو څخه فارغ شول په کورکې له څه دمې وروسته دمالدارۍ او زمينداری په کارنو به بوخت شول،د څارويو څخه به يې څارنه او پالنه کوله ،کورته به يې د سون مواد برابرول، څارويو ته به يې شوتله ريبله او دژمي لپاره به يې دوچو وښو زيرمه جوړوله ٠

په همدې ډول هلکانو د ځمکو په يوي کولو ، کرلو ، خړاوبولو، لو او لور، د شولو دنهالونو په کرلو او ډيرو نورو برخو کې دکور د مشرانو مرسته او لاس نيوی کوه ٠


ددې مصريوفتونو تر څنگ به دکلي هلکانوتفريحي پروگرامونه هم لرل ،مازيگر به هلکان دکلي ومخې ته راوتل او دواليبال،فوټبال خوسي ، پهلواني ، توپ ډنډه ، الله داد او په نورومحلي لوبو به بوخت شول چې دا کليوالي لوبو به د سپورمۍ په شپوکې تر ناوخته پورې دوام درلود٠

لکه مخکې چې مو وويل: په لغمان کې دکرنې ځمکه دخلکو په پر تله لږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه نو ځکه د لغمان دخلکو دکورنیوعواید د کرنې ، مالداري ، لو او لور او نورو حرفوي کار او زیار لـه لارې څه نا څه تامینیده٠



نیکه به تر مازیگره دبزگر سره دکروندې په کارونوبوخت وه ،مونږ به د غرمې ډوډۍ ورته وړله٠ زمونږ بزگر محمدجان نومیده ، هلکانو به ورته محمد جان ماما خطاب کا وه ٠

محمدجان ماما شپه او ورځ په ځمکه کې کارکاوه او ډیر زحمتونه یې گالل خو دژوند ترپایه پورې دسوکاله ژوند خاوند ځکه نه شوچې له یوې خوا دډیرو اولادوڅښتن وه اوله بلې خوا د فصلونو دکر د موسم په سر کې به یې غنم ،جوار اونور داړتیا وړغلې، دانې په گټه یا سود اخستل اودفصل دحاصل په وخت کې به یې سودخورته یو په یونیم گټه یا سود ورکوه ،که دفصل په سرکـې به یې دسود خورڅخه لس منه غله ترلاسه کړه بیا به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حا صل په وخت کې پينځلس منه اوکه شل منه به يې ورکړې وه ديرش منه ، هر ځومره چې به د غلې قرض زياتيده په هماغه اندازه سودخور گته يا سود ورځيني تر لاسه کوه •

دمحمدجان ماما بله چاره نه وه هغه مجبوروه چې اولادونوته خوراک يا ازوقه برابره کړي او د سود خور شرطونه ومني •

هغه کال مې نه هيريږي کله چې محمد جان ماما دنيکه په ځمکه کې د غنمو لوگډ کړ بيا يې دلو شوو غنموگيډۍ و چلولې د غنمو په غوبل او بادولو کې يې دير زحمتونه وگالل ، د درمند په جوړولو کې نه يواځې محمدجان ماما بلکه دهغه ميرمنې او اولادونوهم ډير زحمتونه وگالل، خوبياکله چې درمند تياراو تللو ته برابرشو، سودخور يې سرته کيناست ، دکلي اوسيمي رواج داسې وه چې بزگر ته بـه د درې برخو څخه يوه برخه په تقسم کې رسيده، دمحمد جان ماما د خــپلې برخې سربيره دلو اولور ، درمندجوړولو ،با دولواو اودغنمو صدريو دچلولوسره بس همدومره برخه شوه چې د سود خور قرض پکې مجرا شی•


سود خور چې هميشه به يې لکه ملا شا گل ږيره په نکريزو سره وه، دغنمو بوجۍ په خره بار او دکورپه لور روان شو،محمد جان له ځايه پا څيد ،خپلې ميرمنې او اولادونو ته يې وکتل اوسوړ اوسيلی يې تر خولې وخوت •

نيکه چې دا حالت وليده ، محمد جان ته يې د خپلې برخې څخه دولس منه غنم جدا کړل او ورته يې وويل :چې اوس دا درسره واخله خدای مهربانه دی کله چې مو جواروټکول او دتوکو څخه موجلا کړل بيا به سمه مرسته در سره وکړم•

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکه به هره د جمعې ورځ دتیرګړو بازار ته تلواوکله کله به یې مونږ هم له ځانه سره بیولوهغه به دجمعې لمونځ دتیرګړیو په جامع جومات کې ادا کاوه نوکله چې به لمونځ وشو بیا به دتیرګړیوپه بازار کې چې د تیر ګړو د پله تر څنګ د الیشنګ دسیند پرغاړه جوړیده دنرخونو پوښتنه کوله او د کور د اړتیا وړتوکي به یې رانیول ،ددې بازارڅخه مونږکور ته چای ، بوره ، ګوړه ،تیل ،مالګه او نور دضرورت وړ توکی را نیول ٠



د تیرګړو بازارته به دجمعې په ورځ له لرې ځایوڅخه خلک د تجارت لپاره راتلل چې د تیرګړوپه هر جمعه بازارکې به دخلکو ډیره ګڼه ،ګوڼه او جم و جوش وه ٠

کله چې حسن خان په لغمان کې والی شو دهغه په واکمنۍ کې د لغمان ولایت دنوي ښار دبنسټ ډبره کیښودل شوه او دتیرګړو بازارهم نوی ښارته چې د الیشنګ اوالینګار د ولسوالیو په ابتدا کې موقعت لري ولیږدول شو، والی حسن خان دلغمان نوی ښار چې دمهترلام په نامه یادیږی د ښاري پلان سره سم په جوړولو پیل کړ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن خان د عمرانی چاروسره خاصه لیوالتیا لرله هغه د لغمان ښار ته ښکلی بڼه ور کړه، کلو او باندو ته یې سرکونه وویستل ، که څه هم پدې کار کې د ستونزو سره مخ وه مگر هغه وکولای شو چې د خلکو په مرسته سرکونو پلونو ، پلچکونو او د نوي ښارد ابادولو چارې په پوره زحمت پر مخ بوځي چې دلغمان خلک د هغه خدمتونه په خاصه توگه دلغمان د نوي ښار په جوړولو کې د ستاینې وړ بولي٠

وایي مخکې لدې چې حسن خان دلغمان په ولایت کې په دنده وگمارل شي هغه دبغلان په ولایت کې والی وه، هلته یې هم دبغلان دنوي ښار تهداب اواساس ایښی وه نوکله چې په بغلان کې دنوي ښار کارونه بشپړ شول ،والی امروکړ چې تمام دولتي دوایر دې نوي ښار ته انتقال شي ، مسولین والي ته ورغلل اود ترانسپورت د نشتوالي ستو نزه یې والي ته وړاندې کړه، هغه چې ددې ستونزې نه خبر وه نو ټولو کار مندانو ته یې امروکړ چې دخپل دفترونو څخه میز ، چوکۍ اویا کوم شی چې دوړلوتوان یې وي له ځانه سره واخلي چې په همدې ډول حسن خان خپله چوکۍ په اوږه کړه اوبې له کوم ترانسپورته دنورو مامورینو سره یوځای دبغلان نوي ښار په لورروان اوپه همدې ډول یې نوی ښار افتتاح اودفاتر یې د کارمندانو په مټ انتقال کړل٠

**د لغمان په کلیو کی د اختررواجونه**

د لغمان په کلوکې د اخترونو دودنه او رواجونه ډیر په زړه پورې دي، کلي والو به د اختر په ورځو کې تفریحې پروگر امونه درلودل ،نجونو اوهلکانو ته به یې مور او پلار نوې جامې رانیولې چې د اختر په سهار به هرچا خپلې نوې جامې اغوستلې او دکور د مشرانو سره به د اختر د لمانځه د ادا کولو په موخه جومات ته ور تلل ، کله چې به لمونځ وشو نو په جومات کې به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همزولو او مشرانو سره د اختر مبارکۍ روغبړ وروسته د نژدې خپلوانو او عزیزانو کورنو ته د اخترمبارکۍ په مقصد ورتلل او دمبارکۍ تحفې به یې تر لاسه کولې ٠

په اخترونو کې د لغمان ولایت په مختلفوځایونوکې لکه دمهترلام بابا زیارت ، دولایت په مرکز، دتیرګړو په پخواني بازار ، داستانې کلی چې دچاردهی په سیمه کې موقعت لري، بي بي هاجره ، بي بي صیب ،مندروړ ،قرغه یي ،علیشنګ اوعلینګار په ولسوالیوکې په زړه پورې میلې او پروګرامونه جوړیدل چې هلکان به دخپلو مشرانوسره ورتلل ، رنګ شوی هګۍ به یې جنګولې او دکور لپاره به یې ماهي،ځلوبۍ ،کجورې ، وچې او تازه میوې او نورخوندور خوراکي توکې له ځانه سره را وړل٠

## لنډه ادبي ټوټه

**کوم اختر؟**

زمونږ دکلي دتروږمۍ ماښام څخه خوشیبې دمخه دکلي یوتنکې لس کلن هلک خوشحاله بریښیده ،دهلک دخوشالۍ وجه یوهم دا وه چې هغه د سبا ورځي د اختر د راتګ څخه خبر شوي وه٠ هلک ته دهغه مور او پلار د اخترلپاره نوي جامي،څپلي اوواسکت رانیولي وه چې هغه په همدي مازیګر قضا د سباورځې لپاره نوې جامې اود نـژ دي دوستانو داخترمبارکۍ تحفي په خپل وجود کي تمثیلولي اوهمدا وجه وه چې هلک ته یې خوشحاله ښه ورکړي وه،په رښتیاسره هم کوم اختر چې هلک ته سبا راتلونکې وه، نه تنها هغه ته بلکې دکلي ټولو اوسیدونکو ته دخوشحالي زیري ورکاوه.

هو، کوم اختر ؟ دکور،کلي او بانډو اختر اوکه دمهاجرواخترکوم چې دخپل کور ، کلي اوبانډو څخه یې لرې په پردي وطن کې لمانځي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دايوځـرگنده خبره ده چې اخترهرچاته هرچيرې اوپه هرځاې کې چې وي پوره اويانيمه خوله خندا اوخوښي وربښي.

**نو اختر کوم اختر؟**

**دا دځـوانانـودخـــــــوښيو اختـــــــر**
**د پيغـلـونجـــــنو دټـــــاليو اختـــــر**

**د کــــــــــور او کــلـــــــي اخـتـــــر**
**چـــــي لـــــوړ دودونـــــه لــــــري**
**د ســپـــــــوراو پـــــلـى اخـــتـــر**
**ښـــــه رواجـــونــــــه لـــــــري**
**دا د خـوښيـواتـنـــــــــونو اختــــــر**
**دا دخوشــــــحاله ســــــرودونواختر**
**دى دبيـوزلوكونډورنـــــــــــــــډواختر**
**د يتيـــــــمانو او بربــــــنډو اختـــــر**
**د غريبـــــــانو او خانـــــــانو اختـــــر**
**د مسلمـانودينـــــــــــدارانو اختـــــــر**
**وي مبــــــارک دې پــــــه تمـــــاموخلکو**
**وي برکــــــت دې پــــه تمـــامو خلکـــو**

**ښـــــه افغـــــاني دود اورســـمونه لـــــري**
**خـــــدايږوچې ښــــکلي رواجونــــه لــــري**

سميع الدين افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ځوانۍ سپرلي

لغمان زمونږ دگران افغانستان لکه دهیواد دنورو ولایاتوپه څیرښکلی اوسر سبزه ولایت دی چې ددې ولایت ښکلا دپسرلي په موسم کې څو برابره زیاتیږي ۰ له یوې خوا دحاصل خیزو فصلونو کروندې او دبلې خوا د لغمان غرونه ،دامانونه ،سیندونه، ورشوگانې ، رنگا رنگ خود رویه گلانو اوشنو سر سبزه تپو په وجه داولایت د شین لغمان په نامه یادوي ۰

د لغمان په ښکلي پسرلني موسم کې ځوانان ډلې ډلې کروندو ، دښتو او دامانو ته په سیل راوځي او نجونې د شوقه گلونه په اوربل ټومبي او دا سندره زمزمه کوي :

**دا چار چشمه گلونه خوند کړي په سرو کې**

**گل په دامانو کې**



(c) ketabton.com: The Digital Library



لغمان شنې اوسرسبزه درې لري چې ددې درو له جملوڅخه د اليشنګ او الينګار درې د لغمان د مرکز مهترلام ښار په شمال او شمال لويديز کې د اليشينګ او الينګار د سيندونو په استقامت پرتې سيمې دي چې ځمکې او کروندې يې دهمدې سيندونو د پريمانه اوبو په وجه خړاوبه کيږي ۰

د عمرزيو سيمه د اليشنګ د درې په پيل او د الينګار دره بيا د لغمان د مرکزشمال لورته پرته دره ده چې ښکلو کلو، باندېو اوحاصل خيزه کروندو ددې سيمې ښکلا څو برابره زياته کړې ده ۰

وايي چې هرچاته خپل وطن کشميردی نوپدې وجه دلغمان اوسيدونکو ته هم لکه دنوروهيوادوالو په څير خپل دخاپوړوکلي اوباندې په زړه پورې دي ۰زما هم دلغمان په کلو اوباندېوکې ژوند تير شوی اودهمدې ولايت دعمرزيود سيمې دخير اباد په کلي کې زيږيدلی يم ، لمړنی او مينځنې زدکړې مې هم په همدې ولايت کې سرته رسولې اوبيا دلغمان د روښان د ليسې څخه فارغ شوی يم چې زما دوړکتوب اوځلميتوب ډيری برخه دلته په همدې ولايت کې تيره شوې او د دې ولايت په ډيرو پرتو سيمو،کلو اوباندېوکې زمونږ دوستان او نژدې خپلوان ميشت اوهستوګنه لري ۰

دځوانی ياران ،ساده اوپاک زړي کليوال،دښوونځی ددورې هم صنفيان او ښوونکو خاطرې لا اوس هم زمونږ په فکر او ذهن کې ژوندی پاتې دي نوپه همدې وجې لغمان زمونږ د ځوانی دخاطروپه زړه پورې سيمه او ولايت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بي بي هاجرې کلی

دبي بي هاجرې کلی د الینګار د ولسوالۍ په استقامت د ارمل ،کټل او بصرام د کلو په امتداد کې پروت دی چې ګاونډ ته یې مصري کلا، د ساپیانو کلا ، فتلاح کلا او نور لوی او واړه کلي او بانډې پرتې دي ۰

پدې کلي کې شاو خوا څوارلس کورنیو هستوګنه درلوده چې په ختځه روستم خیل یاکوچیان دي اوڅونسله پخوا دلته په همدې کلي کې میشت شوي دي۰

ددې کلي د اوسیدونکو څخه مامور صیب محمد امین خان رستم خیل حاجي صالح محمدخان رستم خیل ، حاجي سید محمد ماما،محمد ګل خان ،مولوي صاحب دسته ګل، خاورې محمد اسحاق ماما ، مرجا ن ماما چې په مالدارۍ بوخت وه،حاجي محمد طالب مشهور په ترافیک ، قاضي صیب تازه ګل ،معلم صیب خیال ګل ، مولوي صیب روضه ګل، قاضي عبدالمجید ، مامور جنت ګل خان او نور ددې قوم پورې منسوبې کورنۍ وي چې په خپلوکې یې راشه درشه لرله اوپه غم اوښادۍ کې یودبل مرستندوی پاته شوي دي ۰

مونږ به کله چې دغه کلي ته د ښوونځۍ د فراغت په موقه ورتلو نو د خیال ګل لالا لیدو ته چې زمونږ د عمر او ښډار ملګری وه خاماخا ورتلو،خیال لالامهربانه اوبا استعداده ځوان وه هغه دانګلیسي ژبې او ساینسي علومو سره خاصه لیوالتیا لرله۰

دغه کلي ته زمونږ د راتګ بله موخه هم دا وه چې زمونږ سکنۍ ترور دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې واده وه ، هغه به زمونږ په راتگ ډېره خوشالیدله اوتل به یې نازولو چې زمونږ ددې بی بی حاجي تروربنه سلوک اومیلمه پالنه لا تراوسه زمونږ په ذهن اوفکرکې هک اوزمونږ دښو خاطرو په زړه پورې بیلگې شمیرل کیږي٠

**د بي بي هاجرې تاریخچه**

وایي چې مهترالمک ع ریښتنی پیغامبروه کوم چې همدا اوس د لغمان ښار دهمدې رسیدلي او د کرامته ډک شخصیت په نوم یادیږي٠

مهترلام بابا دنوح ع پلاروه ،اوهغه دسلطان محمودغزنوي چې دوخت مقتدر پاچا وه خوب ته راغلی وه چې په خوب کې ورته وایي :

ته د وخت مقتدر او نامداره پاچا یې او زه ستا په گاونډ کې پروت یم ، زما مقبره معلومه او ودانه کړه ٠

سلطان چې کله خپل خوب دخپلودرباریانوسره شریکوي، درباریان یې ورته مشوره ورکوي چې که بل ځل ورته په خوب کې راغی دهغه د خښیدو د ځای تپوس ورځینې وکړي٠

کله چې په دویم ځل سلطان هغه په خوب کې ویني نو ورڅخه د هغه د مرقد یا دخښیدلو د ځای تپوس کوي چې هغه مبارک په ځواب کې ورته وایي :

ته خپل اوښ په دښته کې دلمر پریوتوپه لور ایله کړه ستا د اوښ په لمړي او دوهمه دمه ځای کې نه بلکې په دریمه دمه ځای کې به زما مقبره وي ٠

کله چې سلطان د خوبه پاڅیږي دخپلو درباریانو سره ددغه روحاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصيت دمرقد دپيداکولو په لټه راوځي اوخپل اوښ دلويديځ په لور ايله کوي د اوښ په دريمه دمه ځای کې د هغه مبارک د خنبيدو ځای پيداکوي اوخپلودرباريانو ته امرکوي چې ددې مبارک مرقد دسره جوړ اودزيارت په شاأوخواکې دې ښکلی بڼ بنياد کړی شي چې همدا د مهتر المک عليه الرحمه زيارت اوبڼ دلغمان دولايت لويديځ تهدعمرزيودتپو ترشاه په څوکيلومترۍ کې دسلطان محمودغزنوي په امرجوړاو ورسته د بڼ دخړوبولو په موخه د اليشنگ دسيندڅخه يوه وياله دعمرزيو دتپو په مسيرکې ورته وويستل شوه چې دمزار د ويالې په نامه يادېږي٠

دمهترلام بابا دمرقد څنگ ته يو حضيره (هديره ) ده چې په دې هديره کې ستراومشهورکسان لکه يوسف خان د غازي محمد نادرخان شهيد پلار، شهزاده فريدون،غازي محمدشاه خان بابکرخېل ،فيض محمد خان او نور غازيان او روحاني شخصيتونه ښخ دي٠

دمهترالام ع بل ورورنورالام صاحب نوميږي چې هغه هم په لغمان کې دنورالام صاحب په دره کې چې دا دره دهمدې مبارک په نوم مسمی ده خاوروته سپارل شوی اودلرې ځايونوڅخه يې خلک زيارت ته راځي٠

بي بي هاجره چې مخکې مودهغې مبارکې دزيارت په اړه يادونه وکړه د دغو دوه وو روحاني شخصيتونو مهتر المک ع او نورالام صيب خور ده چې د بي بي هاجرې په باندہ کې خاورو ته سپارله شوې او زيارت ته يې ښځې او نجونې په خاصه توگه په اخترونو اونورو مذهبي ورځو کې راځي او د هغو د تبرک ځای دی٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي چې ډير کلونه پخوا پدغه کلي کې مرحوم حاجي غلام جان رستم خيل کوچی ميشت شوی دی چې دهغه څلورځامن دحاجي صاحب احمد جان رستم خيل کوچی ، حاجي صاحب وسيم رستتم خيل کوچی ،حاجي صاحب قسيم رستم خيل کوچی اوحاجي صاحب نسيم رستم خيل کوچی په نومونو يې شهرت درلود٠

۱-حاجي صيب احمدجان څلورنارينه اولادونه درلودل چې دهغو سهرت په لاندې ډول دی ٠

ښاغلی صالح محمدخان رستم خيل مشهورپه مامورصيب صالح، ښاغلی حاجي سيدمحمد خان رستم خيل چې په کرنې اومالدارۍ بوخت وه، طالب رستم خيل چې دلغمان د ترافيکو د مدريت په مربوطاتو کې يې دنده درلوده اومرجان رستم خيل چې په مالدارۍاوزمينداری بوخت وه٠

ښاغلی صالح محمد خان رستم خيل دوه نارينه اولادونه ،ښاغلی حاجي سيد محمد خان رستم خيل ۷نارينه اولاده، ښاغلی طالب رستم خيل ۴نارينه اولادونه اوښاغلی مرجان رستم خيل ۲ اولادونه لري چې هر يويې اوس د لمسيانو او يا هم د کړوسيانو خاوندان دي ٠

دیادولووړده چې دهغه وخت په ډيرو سختو اقتصادي شرايطوکې د دې کلي اوسيدونکي مامورصيب محمدامين خان اوحاجي صالح محمد خان رستم خيل توانيدلي وه چې درس او تعليم ته مخه وکړي چې وروسته د تعليمه څخه هغودلغمان په ولايت اودهيواد په نوروسيموکې دماموريت رسمي دنده ترسره کړې چې د پوره وقار او اعتبار خاوندان پاته شوي دي ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه مولوي صاحب دسته گل خان هم مدبردیني عالم وه اود ننگر هار د هډې دنجم المدارس د مدرسې څخه فارغ شوی وه چې ددوئ د فیض اوبرکته ددې کلي اوشاو خوا کلواوبانډو ډیری ځوانانوتعلیم ته هڅول شوي اودپوهې اوعلمیت لوړو مدارجو ته رسیدلي دي٠

لکه مخکې چې مو وویل: دکلي اوسیدونکوځمکودکرلوترڅنگ مالدارۍ ته هم خاصه پاملرنه درلوده چې دبیلگې په توگه سید محمد رستم خیل چې ددې کلي اوسیدونکی وه هغه ته کومه ځمکه اوجایداد چې دپلاره پاتې وه دهمدې ځمکې د کرلوتر څنگ په مالدارۍ بوخت او له همدې طریقه یې دکورنفقه برابروله اودگذارې وړژوند یې درلود٠

حاجی سید محمد دکروندو د کر لپاره د دوه سخوندر مالونو تر څنگ د شیدو غواوې، میږې ،وزگوړي او گډیان هم روزل چې په کور کې به یې تل د شیدو،مستو ،کوچو ، شرمبو او وچه شووغوښوپریماني وه٠



**په کلیو کې ودونه او دودنه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لغمان په کليواوباندوکې دودونو رواجونه ډيرستونزمن وه ،زوم به د واده مراسمو لپاره له ډير پخوا څخه تياري نيوله ،ځينې کورنيو به په زوم ډير باج او تاوانونه راوستل ، هغه به يې د کوژدنې لپاره قيمتي جامې ،گاڼې دسرو زرو غاړکۍ دلاس بنگړيوپه رانيولو او نورو سياليو ته مجبوروه ۰

همدارنگه واده ته دبلل شووميلمنودخوراک ،څښاک اواضافي لگښتونو تر څنگ د واده گډون کونکو دخوشالۍ په موخه ټنگ ، ټکورجوړول او سازيان رابلل اوددې نه علاوه ډيرو نورو ملا ماتونکو لگښتونوبه زوم دژوند ترپايه پوروړی ساته اوهغه به دخپل پوردپريکولوپه موخه ټول عمر دمحتاجۍ او زحمت ژوند تيروه۰

دکلي هلکان به په وادنو کې ټنگ،ټکوراو دسازيانوراتگ ته خوشاليدل اوخپل ملگري به يې د واده د ځای او هنري ډلو څخه خبرول۰ په هغه وختونو کې د گلکي استاد ، ماجتي ، غلام محمد ،پاينده محمد،هفته گل ،زيړ گل ،شاگل اوډيرو نورو هنري ډلو په سيمه کې ښه شهرت اومينه وال درلودل ۰

په ښاديو کې به د واده مسولينو سازيانو اوميلمنوته په حجرو ،دکلي دننه اويا هم کلي ته نژدې مناسب ځای جوړاوه او د ټنگ ، ټکورځای به يې په کټونو، گلمونواوتوشکوسمبال اودغه ساحه به يې په گيسونو اوچراغونو روښانه کوله۰

سندرغاړو به په وار سره ارمونيه ترغاړې کړه او خوږې چاربيتې، بگتۍ او داستانونه به يې په خوږو نغموکې گډون والوته اورول۰موظف کسانوبه چاې، چلم ،تمباکو اود څښاک اوبه گرځولې چې په همدې ډول دسيل فضا به دچلم او سگرټو په دودونو لړلې شوې وه ۰

په لغمان کې محلي سازيان ډيروه چې دهغوی دجملو څخه يوهم استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل محمد وه چې په ګلکي مشهوروه،هغه به په سندروکې دمستو بګتیو ،غزلو، مصرو ، اوڅلوریزوترڅنګ ډیرپه زړه پورې داستانونه اودیني قصې کولې چې په مستو کمپوزونو او خوږو نغمو به یې د واده ماحول خوشاله ساته .

ګلکي استاد به کله ، کله دخپل ځوی سره چې په پاینده مشهور وه په سندروکې فلبدیهه شعرونه دسوال اوځواب په ډول اورول ، ځوی اوپلار به شعري مقابله کوله ، چې د حاضرینو په احساساتو او دلاسونو په پړکهاروبه بدرګه کیدل .

پاینده هم خوږ اواز درلود او ښه هارمونیه یې غږوله چې ورسته بیا په یوه ترافیکي پیښه کې ومړ او ګل محمد استاد تر ډیره وخته دخپل ځوی په سوګ کې غمجن پاته شو.

په لغمان کې د مشهورو محــلي هنرمندانو له جملې څخه د استاد ګل محمداو پاینده ترڅنګ خوږژبي سندرغاړی لکه ښاغلي ،ماجتي ، غلام محمد چې په غلامي مشهور وه ، منګل ،ملا ، ملنګ باغبان ،عاشق ملا شاګل ، زیړګل، رحیم الله، هفته ګل او ډیرنور وه چې په محفلونوکې به یې د ملنګ جان، بهایي جان،او دلغـمان دشـاعرانو لکه دالینګاري استاد،محمد نور،دګلکاریوبسم الله، اشکار ،حنان ،شهید ارمان ،عمرزی وال،ګوجوال ،فقیرسیدبها الدین جان، مولوي نقیب الله اونورو وتلو شاعرانو شعرونه په خوږو نغمو اوکمپوزونو کې خپلومینه والو ته اورول .

په همدې ډول ټنګ ،ټکور به ترسبا مازیګره دوام درلود،مازیګربه ځوانانوډولۍ په اوږو کړه،زوم به دډولۍ ومخې ته اونورمیلمانه به دسازیانوپه بدرګه دناوې د راوستلو په موخه د خسر کور ته روان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې به میلمانه دناوې کلي یا کورته ورسیدل هلته به دنکاح لپاره د کلیومشران ،سپین ګیري ، ملکان ، دینی علما ، دجومات امام او نوربا نفوذه اشخاص په یوه مناسب ځای کې کیناستل، دزوم اوکوژدنې شرعي نکاح به یې ددیني علما،ملا صاحبانواوبا نفوذه شخصیتونوپه حضورکې تړله

تر نکاح وروسته به سازیانوبه یوه پنجه مست سازوکړاوبیا به زوم دخسرپه کورکې دنوربوج اورواجونوسره پنجه نرموله،هغه داسې چې دکلي نایي ،ترکاڼ ، زرګر ، پښ، ګلکار،اشپز او نورو به په وارسره دځوم ومخې ته کیناستل اوخپله حقداري به یې ځینې غوښتله اوزوم مجبوروه چې دا سیالۍ ترسره کړي اوهریوته دحقداري په موخه څه پیسې په لاس ورکړي٠

ترهغه وروسته به زوم دناوې خونې ته بدرګه کیده ،دناوې خونه چې دناوې د خورلڼو ،ښځواوماشومانو څخه به ډکه وه مخکې له هغه چې زوم دناوې خونې ته ننوځي د ناوې د خورلڼو لخوا به دخونې ورتړلی شوی وه تر هغه ورسته چې نجنوبه خپله شیرینې ترلاسه کړه وربه پرا نیستل شو او زوم ته به خونې ته د ورتلو اجازه ورکړل شوه دزوم په راتګ سره به په هغه باندې دهر لورې تورې پیسې ، نقل ،پتاسې او چاکلیټونه شیندل کیدل چې په خونه کې به سمدم غوغا جوړه شوه اوهرچا هڅه کوله چې ځانله په دې چورکې څه ترلاسه کړي ٠

زوم ته به پس له ډیرې ګډوډۍ دا موقعه برابره شوه چې د ناوې تر څنګ ځان ورسوي او دهغې سره جوړه ودریږي٠

په همدې ډول پس له ډیروټوټکواورواجونو به نجنو دچمبوسره یوځاي اوازونه پورته کړل، په خوشالي او نڅا ګانو سره به یې ناوې ډولۍ ته بدرګه او ځوانانو به ډولۍ جګه کړه دټوپکو،تفنګچو په ډزو او اتڼونو سره به یې په ډیره خوشحالي ناوې دزوم کورته بدرګه کړه ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزوم په کورکې مخکې له دې چې ناوې دډولۍ څخه کوزه شي د ناوې ومخې ته به یې پسه، او یا چرګ درسم په دودحلال کړاودناوې پښه به یې په وینو سره کوله .

د ډولۍ څخه د ناوې په کوزیدلو سره د زوم په کور کې دکلي نجونو او ښځو له چمبې سره بیا اوازونه پورته کړل او په مستو سندرو او نڅا ګانو به یې محفل ته خوشحاله ښه ورکوله .

په همدې ترتیب د ناوې په کوزیدلو سره به د واده لمړۍ او اساسي مراسم پای ته ورسیدل اوزوم کولی شول چې پس له ډیرومنډو،را منډو اوجنجالونوڅه دمه وکړي چې ورسته بیا دواده دریمه،تخت جمعي او دواده په اومه کې ناوې دپلار کورته تګ دومره د جنجال او تشویش خبره نه وه .

## پل دې بختور شه

شپــــې دې د بــرات شـــه شـه کلـــونه دې اخـــتر
پـــل دې بخـــتور شــــه نــاوې پـــل دې بخـــتور

پــل دې بختورشـــه نــاوې میـــنه کــې دې کورشــو
نــوې اشنـــایي شـــوه نـــوی بـــل دمینـــې اور شــو
ســتا دحســن شـــمعه چــې روښـانه پــه هــرلورشو
حســـن دې ښــکلا دې چـــیرې مــه شـــه د نـــظر
پـــل دې بخـــتور شــــه نــاوې پـــل دې بخـــتور

نـن چـې دې محفـل کـې خوشحالـــي ده هـم خـندا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښــې دې هــمزولې دې پـه مــينه کـړي نڅـا
يــې د نـجـونومــيره ټــول دا ســتا پـه تمــاشا
رب دې پـه نصـيب کـړه پـه ژونـدون کـې زيـب اوزر
پــل دې بخـــتور شــــه نــاوې پـــل دې بخـــتور

نــاوې نــوی ژونـدکې خوشــحالي دې شـه نصيــب
کــوردې بختورشــه خــوږ اشنـــا دې شـه طبــيب
اور يـې چـې بلــيږی پـاک الله يــې شـې قريـــب
وی دی پـه امـان کــې افغــانــي ښـــکلی بشـر
پــل دې بخـــتور شــه نــاوې پـــل دې بخـــــتور

سميع الدين افغاني

**د نوي کال يا دنوروز ميله**

دنوروز ميله په لغمان کې لکه زمونږ دهيواد دنورو ولاياتوپه شان په شاندارومراسموسره لمانځل کيدله، دکلي هلکانو به هم په دې ورځ کې ځانګړي پروګرامونه درلودل هغه داسې چې ټول هلکان به دکلي ومخې ته دسپيداراونورووونودتازه غوټيو،شنو ښاخونو اولښتو سره چې دنوي کال يا دسپرلي په موسم کې غوټېږ او پاڼې نيولې وې راووتل او د کلي د هر کور ، کلا انګړونو مخې ته دريدل اود اترانه به يې په لوړ اوازاو انداز اوروله:

ګـــل ګـــل دی نـــو روز
خدای دې درکي شتمن روز
دشتمـــن روز برخه راوړی

ددې ترانې په اوريدلوسره به کوربه دکوره څخه څه خوراکي توکي لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وریجې ،غوړي، پیاز اویا نور هغه خام مواد چې دپخلي لپاره اړین وه هلکانوته دنذرانې په دود ورکول ، په همدې ډول هلکان به د کلي ټولو انګړونو او کورونو ومخې ته ورتلل او په پوره اندازه د ضرورت وړ خوراکي توکي به یې ترلاسه کړل٠

کله چې به یې خوراکي موادراټول کړل بیا به هلکانودپخلي لوښي لکه دیګ ، بشقابونه ، چاي جوش ، چاینکې، پیالې ، قاشقې او همدارنګه د ضرورت وړغوړي ، مالګه ،مسالې دخپلو کورونو څخه راوړل اوپه مناسب ځای کې به پخلي لپاره تدابیر نیول کیده ٠

وروسته له هغه به هرڅوک یو کارته وګمارل شو،چابه نغری جوړاوه، چابه د پخلي لپاره دسون لرګي برابرول ،څوک به د اسپزي په کارونو بوخت شو ،چا به بیا دناستې ځای برابراوه،یوې ډلې به دتیګې اچولوپه سیالۍ کې ګډون کوه بلې ډلې به د خوسي په لوبو بوخت شول ، چا به د سطرنج لوبه کوله اوچا به بیا دخپلې دتبعې ملګرواو انډیوالانو سره ګپ ، شپ لګاوه

څو شیبې وروسته به ډوډۍ تیاره شوه ، دسترخوان به هوار شو او هلکانو به په خوشحالي اوخوند سره دنوي کال په دسترخوان کیناستل او په خپلولاسونوجوړه شوې خوندوره ډوډۍ به یې یوځای نوشجان کوله ٠

دنوي کال یادپسرلي په موسم کې هوامعتدله اودتفریح لپاره مناسبه وي ،دښتې اوغرونه ،بڼ او باغچې شنې اوسرسبزه شي، دغرونوپه لمنو کې غاټول او ډول ډول خودرویه ګلان وغوړیږي چې د سپرلي موسم لغمان ته ځانګړې ښکلا ، رنګ او طبیعت وربښي ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دمهترلمک ع لمړنۍ ښوونځۍ**

کله چې مونږدحیدرخانیو دکلیوالي ښوونځۍ څخه فارغ شولوترهغه وروسته دمهترلمک په لمړنۍ ښوونځۍ کې چې د ده زیارت دکلي په جومات کې موقعیت درلودشامل شوو۰دا ښوونځۍ زمونږ دکلي څخه څوکیلومتره لرې وه چې مونږبه هره ورځ دې ښوونځۍ ته پلې ورتلو ، که څه هم دا واټن په اوله کې سترې کیدونکی وه خوبله چاره نه وه ،دکورنۍ غوښتنه داوه په هرډول چې وي مونږ باید درس او تعلیم ته ادامه ورکړو۰

څه مده وروسته د مهترلمک لمړنۍ ښونځۍ د ده زیارت دجومات څخه خپل اصلی ودانۍ ته چې نوی یې دجوړیدوچارې بشپړې شوې وې او دده زیارت کلي ته یې نژدې موقعیت درلود انتقال شوه ۰

د مهترلمک په لمړنۍ ښوونځۍ کې زمونږ ټول هم صنفیان په څلورم ټولگي کې شامل شول،داښوونځۍ دعمرزیو،چاردهي دسیمواودلغمان د ولایت په مرکزیت کې یې موقعیت درلود چې پوه اومجرب استادان یې درلودل،دهغو دجملوڅخه ښاغلی استادعلینگاری چې ډیربا احساسه شاعر هم وه ، ښاغلی استاد عظیم خان چې د ریاضی استادوه،ښاغلی مولوی صیب فضل الرحمان خان،ښاغلی ملا فضل خان ،ښاغلی حسین خان چې په بزرگ مشهور وه، ښاغلی خواجه محمد خان، ښاغلی ستار خان ښاغلی سرمعلم صاحب حبیبالله خان ، ښاغلی محمداجان خان ،ښاغلی سر معلم صاحب غفورخان ښاغلی محی الدین خان او ډیر نور ښاغلي اودقدر وړاستادان وه چې دهغوی له برکته ډیرشاگردان دپوهې اوتعلیم لوړومدارجوته ورسیدل اودپوهې اووطن پالنې په لباس سمبال ټولنې ته وړاندې کړل شول۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې مخکې مودښاغلي علینګاري صیب اودهغه دشاعرۍ په اړه یادونه وکړه لازمه ګنم چې داستاد د شاعرۍ په برخه کې څولنډې کرښې اضافه کړم .

د استاد الینګاري صیب ډیرى اشعار د خوږ ژبی هنرمند پاینده اونورو سندرغاړوپه خوږواوازونوکې کمپوزشوی دی،برسیره پردې علینګاري صاحب زمونږدښوونځی دهنراوکلتورپه برخه کې پوره همکاري درلوده ، په ښوونځی کې د قلمي دیوالي جریدې اوهمدا رنګه په ښوونځی کې د ترانې دټیم فعالول اونورعلمي اوفرهنګي پرګرامونو په مخ بیولوکې یې ځانګړې ونډه درلوده.

زمونږ د ښوونځی د ترانې ټیم مسول استاد الینګاري به هرسهار په شاګردانو تمرین کاوه دښوونځی د ترانې ټیم به په لغمان کې دملي او بین المللي ورځو دتجلیل په ویاړپه رسمي محافلو اوتجلیلونوکې خاص ځای درلود.استاد الینګاري به وطني او داحساسه ډک اشعار د ترانې ټیم ته برابرول چې شعرونه به یې خپله لیکل .د هغه د شعرونو له بیلګې څخه چې زمونږ د ښوونځی د ترانې د ټیم له خوا هغه وخت د لغمان د روښان په لیسه کې واورول شولمړی مقام تر لاسه کړ چې ددې ترانې څو بیته همدا اوس هم په ذهن کې را سره پاتې دي چې د دوستانو سره یې شریکوم :

انســـان پـــه پوهـــه کامـــل انســـان شـــي<br>
عقـــل یـــې ســـالم شـــي روح دجهـــان شـــي<br>
شـــرف حاصـــل شـــي علـــم او ادب نـــه<br>
نـــه چـــــې د مـــال اوملکـــو نصـــب نـــه<br>
علینګـــاری بـــه ســـــتاپه فرمـــان شـــي<br>
عقـــل یـــې ســـالم شـــي روح دجهـــان شـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ لپاره د مهترلمک لمړنی ښوونځی په زړه پورې په دې وه چې دلته د حیدرخانیو کلیوالي ښوونځی په پرتله هرڅه مرتب اومنظم وه،درسي صنفونه،منـظم تقسیم اوقات ،دهر مضمون لپاره ځانګړی استاد، دښوونځی اداره اونور هرڅه نوي وه٠

دښوونځی سیمه به هره ورځ دملازمینو په مټ پاکه اواب پاشي کیدله ، شاګردان مجبوروه چې په ټاکلي وخت درس ته راشي اودښوونځی نظم او مقرررات مراعت کړي،که څوک به بې موجبه ناوخته ښوونځی ته راغی اویاکومه بله سرغړونه به یې کوله هغه ته به داداري له خوا جزاورکول کیده٠

**د روښان عالي لیسه**

مونږدمهترلمک په ښوونځی کې ترشپږم ټولګي پورې درس اوتعلیم وکړ،کله چې دشپږم ټولګي څخه فارغ او شهادت نامې موترلاسه کړې د نورو زدکړودترلاسه کولوپه موخه دلغمان دروښان په لیسه کې شامل او زمونږ ټول تعلیمي اسناد او سوابق دمهترلمک دلمړنی ښوونځی د اداري له خوا روښان لیسې ته ولیږدول شول اوهلته په اوم ټولګي کې شامل او د نورو نویو استادانواوهم ټولګیو سره اشنا شولو٠

دروښان لیسه چې په هغه وخت کې په لغمان کې یواځینی لیسه وه د مهترلام دښار په مرکزکې موقعت لري چې دډیرولرې ځایوڅخه لکه د الیشنګ اوالینګارد ولسوالیو ،شمنګل ،عمرزایي ،چهاردهي، د قرغیو ، مندروړ اونورو ولسوالیو ، علاقه داریو،کلیواوباندو څخه ورته زده کوونکې ددرس اوتعلیم په موخه راتلل ، چې ورسته بیا دزده کوونکو دستونزو په نظرکې نیولوسره په سنګره،قرغیو ،او مندروړ کې نورې لیسې جوړې شوې چې ددې لیسوپه جوړیدلوسره دشاګردانو ستونزې نسبي هوارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهرچاکولی شول چې په خپلونژدې سیموکې خپل زده کړو اوتعلیم ته ادامه ورکړي٠

اکثراشاګردان ښوونځی ته پلي یاپه بایسکل راتلل،دترانسپورت امکانات ډیر لږو هلکانو ته میسر وه ٠

دروښان لیسه ډیره پخوانۍ لیسه ده چې تعلیمي سویه یې دمجربواستاد انوپه لرلوسره ډیره لوړه وه، ډیرفارغان یې لوړدولتي اوعلمي مدارجو او منصبونو ته رسیدلي دي٠

دروښان لیسې دحیدرخانیودکلیوالي اودمهترلمک دلمرني ښونځیوپه پرتله ډیرتوپیردرلود،صنفونه نسبي مجهزوه،په هرټولګي کې دتغرونو په ځای میز او چوکۍ وې، زده کوونکي به په منظم وخت په دریشۍ کې ښوونځی ته راتلل ، په ښوونځی کې ملي او نړیوالې ورځې لکه د ښوونکي، آزادۍ ، دموراو نوروتاریخی ورځو لما نځنه کیده ،ښکلې ډرامې به جوړیدلې چې شاګردانواواستادانو به پکې فعاله ونډه درلوده٠

دروښان لیسې استادان هریوښاغلی عظیم خان،ښاغلی مولوی صاحب طاهرخان چې په خطیب مولوی مشهوروه،ښاغلی ستار خان ،ښاغلی متین خان ، ښاغلی خانګل خان ، ښاغلی ضیاوالحق خان ښاغلی عبد الرزاق خان او ډیر نورد قدر وړ استادان وه چې همیشه یې دشاګردانو سره په درسي مشکلاتو کې مرسته او همکاري لرله٠

**سیاسي کړۍ اوګوندي فعالیتونه**

لکه څنګه چې مخکې مویادونه وکړه د روښان عالي لیسه زمونږ د کلو او باندو څخه شپږ - اوه میله لرې موقعیت لري اوزمونږد سیمې هلکان به هرسهارښوونځی ته پلي روان وه ځکه چې د ترانسپورت امکانات ټولوته میسرنه وه اوکله چې به دښوونځی څخه رخصت شول بیا به هم ډلې ،ډلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل کلي اوګاونډ دکلو،باندوشاګردانو سره دکورپه لور روان شول اوپه لاره کې به يې ديني،علمي،سياسي اواجتماعي بحثونه کول٠
يوه ډله شاګردانوبه دخپلودرسي ستونزودحل په برخه کې يو دبل سره مرسته کوله،دلوړو ټولګيولکه ديوولسم اودولسم ټولګيوزده کوونکو به داوم اواتم تولګيودزده کوونکوسره ددرسي مشکلاتو په حلولوکې موثره رول لوباوه ددرسي ستونزو دحلولو ترڅنګ به شاګردانوبه په ديني ،اجتماعي او سياسي مسايلوکې هم بحثونه درلودل اوپه هيواد کې به يې دفقراوبې عدالتيو په اړه خپل نظر او اندونه شريکول ٠
بلې ډلې به علمي،فلسفي اوسياسي بحثونه کول اودمشخصې ايدیالوژۍ ياموضوعګيرۍ لپاره يې کار کاوه،هغو به دکلو ،باندو،ولاياتو ، مملکت او په سيمه کې دخلکو،حکومتونواوسياستونوپه اړه خپل نظر څرګنداوه ،چې اکثرا دابحثونه به دهيواد اونږۍ په کچه دفقر او بيعدالتۍ په مدار څرخيدل ٠
يوې ډلې به ديوې سياسي ايډولوژي څخه اوبلې به بيا دبل سياسي دريزونو او موضوع ګيريو څخه دفاع کوله٠ ددې حالت څخه داسې مالوميده چې مختلفو پارټيو او ګوندونو دځوانانوپه مينځ کې دخپلو صفوفودتـقويې په موخه تبليغاتي کار شروع کړی وه٠
دا بحثونه په زړه پورې په دې وه چې هر ډلې به په هيواد کې دبدبختيو عوامل په مختلفو نظرونو، تحليلونو او ليد لورو کې څيړل او ځوانان يې په هيواد کې ديوې عادلانه ټولنې دمينځ ته راتګ په موخه مبارزې ته رابلل او په همدې ډول به يې دخپلوعلاقې وړپارټۍ او تنظيمونوکې تنظيمول٠
ځينو بيا داسلام مقدس دين ته دخدمت په منظوراوپه وطن کې داسلامی اصولو دتدبيق په مقصد ځوانان جهاد ته را بلل اوپه هيوادکې ددې ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدبختیواصلي لامل یـې اسلامي اصولودنه مراعت کیدودلیل باله اوخلک یې ددې مقدس هدف دعملي کولوپه مقصدپه اسلامي لیکو کې تنظیمول او کفرسره یې دجهاد نارې پورته کړې وې٠

ځینو نورو بیا د مارکس اوانګلز د ایډولوژۍ طرفداران وه چې هغوی ددې بدبختیو اصلي لاملونه په وطن کې د طبقاتي ژوند موجودیت باله او داسې یې تحلیل کاوه چې مونږ باید زیربنا یا اساس ته تغیر ورکړو، اوپه وطن کې دعادلا نه اوانساني ټولنې د راوستلو لپاره کار وکړو او دهمدې هدف لپاره یې ځوانان طبقاتي مبارزې ته دصلح امیزه لارې رابلل٠

ځینونوروبیا دمارکسیستي سیاست په تایدولو سره د قهرامیزسیاست ترفدار وچې دمائوستانوپه نامه یادیدل،بلې ډلې بیا ددې ټولو بدبختیو عامل دافغانانو په عدم اتحاد کې څرګنداوه اود ټول افغان ملت یووالی اودیو موټي افـغانستان د جوړولو ادعا یې کوله او خلک یې اتحاد او اتفاق ته رابلل٠

پـه همدې ترتیب هرسبا اوماسپښین د ښوونځی په لاره کې مونږ دداسې بحثونو سره سر اوکاردرلود چې کله کله به دابحثونو دومره مصروف ساتلوچې داشپږ-اوه میله منزل به راته ډیرذغرده شواوسترړیابه مو لږه احساسوله٠

په همدې ډول په لغمان اودهیواد په نورو ولایاتو کې دخلکو د پاکواو سپیڅلو،ملي ،وطني،اسلامي اوانساني احساساتونه په ګټه اخستلو سره دسیاسـي پارټیو صفوف ورځ په ورځ تقویه اوپه هیواد کې دډلو ،ټپلو، تنظیمـونواوګوندونولپاره تهداب ایښودل کیده چې دیو واحد وطن ، دیـن او ایین خلک یې په مختلفو ګروپونو پارټیو او تنظیمونو تقـسیم اودنفاق اوبدبختي کندې ته ګذارکړل،چې ورسته بیاددې فعالیتونونتیجه زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيواد والودسرپه سترګو وليده او احساس يې کړه٠

**ربښتينې څوک دئ ؟**

که چيري دبشريت اوانساني نړۍپس منظر ته ځيرشو انسانانو د ابتدا څخه بيا تر يويشتمې پيړۍ پوري د انسا ني ژوند دبقا لپاره ډيري هلې ځلې ترسره کړي اودغير مترقبه او طبعي حوادثو په مقابل کې د طبيعت سره لاس اوګريبان او دډيروقربانيوتر څنګ لازمې برياوې هم تر لاسه کړي او پدې برخه کي دډيرو اکتشافاتو شاهدان دي ٠

بشر وکولای شودګرمی‌اويخنی له مختلفوافتونو اوامراضوسره مبارزه وکړي دخوراک پوښاک،سرپنا او نورحياتي اړتياو دلاسته راوړلو لپاره زحمت وګالي ٠خو اساسي پوښتنه داده چې ولې پدې عصر اوزمان کې هم انسانان د ولګې ،بدبختی او ناخوالوسره مخ دئ؟ ايا ددې مشکلاتو اساسي عوامل به په څه کي وي ؟ايا لامل به يې داوي چې بشريت ددې نيمګړتيا په له مينځه وړلو کې پاته راغلی اوندی توانېدلی چې د اوږد انساني ژوند په جريان کې دا ناخوالې له مينځه وېسي ؟ او که علت په خپله انسانانو کې دئ ؟

دا هغه پوښتنې دي چې که چيرې په ربښتينې اودقيقه توګه وڅېړل شي اوددې مرض اساسي عوامل تشخيص اودحل نسخه ورته پيداشي دابه يوسترګام وي په بشري ټولنه کې ديوعادلانه اوانساني ژونداحيا په لار کې٠ددې اونوروپوښتنو دځواب لپاره لازمه ده چې لاندې موضوع ګانو ته دهيوادوالوپام راوګرځوم٠

لمړی ؛دبشري ټولنې د ژوند د تفاوتنو اصلي عوامل په څه کې دئ ولې يوشميرزيات وګړي په فقراوبې عدالتيو کې ژوند کوي اويوشمير نوربيا دهرډول هوساولازم انساني ژونددمزايا اوامکاناتوڅخه برخه مند دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمثال په توگه که افریقا،اسیا اوپه مجموع کې مخ په انکشافه یادریمې نړۍ هیوادو ته پام شو د فقر بدبختیواومحرومیتونو کچه یې ډېره جگه اوبرخلاف دیوشمېرهیوادونودژوندسطحه لوړه اودقوي اقتصاد خاوندان گرځېدلي دي ۰

دوم ؛ کوم هغه مصارفات چې نن سبا د بشر د نابودۍ لپاره پکارول کیږي پدې مانا هغه کارخانې چې د ټوپکو ، ټانکونو، جنگي طیارو او دټولنیزو وژنو سلا گانودتولیدلپاره جوړې شوي اویا دجوړېدو په حال کې دي چې دبشریت اوځمکي دنابودۍ لپاره پکارول شوي اوپکاریږي که چیرې دغه مصارف د انسانانودخیراو فلاح لپاره ترې استفاده شوې وای او وشي،مکاتب،روغتنونه او نورعام المنفعه تاسیسات جوړشوي وای او یاجوړ شي اوس به په نړۍ کې د انساني تراژدیوته دپای ټکی ایښودل شوی وای دهرانسان لپاره به دیوارام ، مرفعه او انساني ژوند زمینه برابره وای ۰

ایا په یو ټانک به ثومر مکاتب اوپه یوې جنگي طیارې به څومره روغتنونه او همدا رنگه په یوې اتومي سرگلولې به څومره عام المنفعه تاسیسات جوړ وای چې په دقیقه توگه به په افریقا اونورو هیوادوکې ماشومان په سوی تغذیه نه وه مصاب اونه به جنگونو د میلونهاو انسانانو ژوند د نابودۍسره مخامخ کړی وای۰

که په دقیقه توگه ددې ناخوالو او پرابلمونو لاملونه وڅېړل شي دې نتجې ته رسیږو چې ددې بې عدالتیو ، ظلم اواستبداد عامل یو انسان دبل انسان ، یوه ټولنه دبلې ټولنې او همدا رنگه یوملک د بل ملک د اتباعو په حققوقو تېری دی اودنورو دبدبختیو عاملین گرځېدلي دي اود ټوپک اوماشینگنوپه زوریې دنورو ژوند دخطر سره مواجه کړی او د خلکو په وینو یې لاسونه سره او نن د ارگاه او بارگاه خاوندان دي چې ژوندي مثالونه یې زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیوادوالوپه هیوادکې ددرې لسیزوڅخه زیاد تپل شوي جګړې په جریان کې په سر سترګو ولیدل او اوس هم هره ورځ د نویو تراژیدیوشاهدان دي ۰
استعماردنوردهستیودغصب لپاره ددووتکتیکو او روشونو نه استفاده کړې چې هغه د فزیکي ګرمې جګړې اوسړې جګړې طرزونه دي اوپه همدو روشونوېې پردې ملکونه ولجه اودمنطقې دخلکوهستي یې تاراج او وګړي یې خپل غلامان ګرځولي دي ۰
دتودې جګړې مثال هغه مستقیم اشغالګره تجاوزونه دي چې دتاریخ په اوږدو کي قوي هیوادونوپه ضعیفه هیوادونوترسره کړي او بل ملک یې د خپلې مستقیمي سلطې لاندې راوستی او د هغوی هستي او دارايي یې لوټ کړې او هغه ملک یې خپله مستعمره ګرځولی ده ۰
بل تکتیک یې ساړه یا تبلیغاتي جنګونه دي چې دهغه په وسیله یې د منطقې یا د بل ملک خلک خطا باستلي اوخپلوشوماهدافودعملي کیدو په خاطر یې دخلکو ذهنیتو نو ته د خپل په ګټه تغیرورکړی دی چې په دغسې مواردوکې دانسانانو د پاکواوسپیڅلو دیني ،اجتماعي او انساني احساساتو نه ګټه پورته شوې ده ۰
که په مشخصه توګه په افغانستان کي دیوشمیر ګوندو،تنظیونو،پارټیو ،ډلواوټپلوته ځیرشوچې اکثرا د پردوله خواتمویل،حمایه اوسازماندهي کیږي چې د خلکو په خاصه توګه دځوانانو د پاکو وطني ،ملي،منطقو او ژبنیزو احساساتونه د خپل ځان په ګټه کار اخستل شوی دی۰که په دقیقه توګه د دغو تنظمونو ډلواو ټپلو دمینه والوسره په تماس کې شو اکثریت یې په دین او هیواد مین خلک دي چې په خواشنی سره د یو شمیر خاینو رهبرانو تر تاثیرلاندې راغلي اوخپله هستي اوژوندیې ددې خاینورهبرانو لپاره په ډېر صداقت اوایمانداري قرباني کړې ده او دوئ یې د مرفعه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستعد ژوندخاوندان گرځولي دي چې ژوندى بيلگه يې چاداسلام مقدس دين په لاره کي قرباني ورکړه ؟ اوڅوک دي چې ددې شهيدانو د وينو په بيه ځانله لوړ شيشه اي قصرونه جوړاوپه خارجي بانکوکې دميليونونو ډالرو خاوندان گرځيدلي دي ؟

که ددې ليکنې اصلي مطلب ته راشو تاريخ دا ښودلې اوهرچاته د منلو وړ ده چې په وطن کي هيڅکله يوې ډلې ، يوتنظيم ،گوند يا يو قوم په تنهائي سره د حاکميت چارې په بريالیتوب سره پر مخ ندي بېولې نولازمه ده چې دوطن په بيا رغونه کې دافغانستان ټول ولسونه اوخلک په گډه برخه واخلي ،زما په اندصرف يووالى او ورورگلوي کولی شي چې دوطن خلک ددې بدبختيوڅخه نجات ورکړي اوبس ، دا چې څنگه دايووالى مينځ ته راځي اوڅوک يې راوستلی شي اوکوم علمي وړانديز ددې معضلې اساسي نسخه ده ؟دا د وطن دبادردو وطنپالو او خداپرسته علماوو،مشرانو اوټولو سياست والو دنده ده چې پدې برخه کې گټوري هلې ځلې وکړي ،د افغانستان او د بشريت دخيرلپاره کار وکړي ، داسي طرحې وړاندي کړي چې ټولوته دمنلووړوي،ترڅودافغاناستان هروگړی ته داميدواری اوهوسا ژوندکولو زمينه برابره کړای شي٠

**بايد په هيواد کې دبې باوريواو اختلافو نو دمينځه وړلولپاره مشترک عملي او بنيادي گامونه واخستل شي ٠**

زماپه اند د افغانستان خلک دمختلفو نظرو ترڅنگ په وطن مين خلک دي دهريو په زړه کې دوطن دابادی مينه شته چې پدې لارکې د هيواد والو ريښتنې مبارزه د قدروړ ده زمونږ خلکود وطن ، ازادی اود خدای په لاره کې خپل ژوند اوهستي هرڅه قربان کړل چې په خواشنی سره بايد وويل شي ددې قربانيو څخه نا اهلو اوخرڅ شوو ليډرانو دځان او خپلومافيايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



انډيوالانوپه نفعه ګټه پورته کړه دوطن،خاورې ،اسلاميت ترشعارنولاندې يې ځانونه دشيشه يي قصرونواوميلونونوډالروخاوندان وګرځول٠
د وطن با دردہ سياستوالو! ! !
په هر تنظيم کې چې ياست په هرليډرچې مو باوردئ داستاسوشخصي کاردئ که مونږ دخپلي لاري حقانيت بل ته کوواودنوروڅخه غواړوچې د ده په لاردې لاړشي او دهغوی رهبردې ومني دا به عملي ګام نه وي ښه به داوي چې ديوه شعارلاندې د اسلام په خاطردافغانيت په خاطر د انسانيت په خاطرد هغه پاکوشهيدانودسپيڅلووينوپه خاطردهغه کونډو يتيمانوپه خاطرکوم چې ديوې مړی ډوډی لپاره د محنت شپې اوورځې تېروي نوردې بې باوريو ، تعصب ، ډلو او ټپلوته خاتمه ورکړو اوديو افغان ،هموطن اومسلمان ترنامه يوبل ته دوروری لاس ورکړو،صرف همدا دبدبختيودنجات لارده صرف همدا په مختلفو ډلواوتنظيونوتقسيم کړل شوي خلکو يووالی دی چې دوطن دټولواقشاروخلکواوولسونوپه صادقانه همکاری د وطن مشکلات حل او يوبل ته دوروری لاسونه ور کړواودنياوالو ته وښيوچې افغانان دا استعدادلري اوکولای شي چې په شريکه دا وطن جوړ او خپلو خلکو ته د نجات الا هيه وګرځي ٠
داده هغه ريښتنې لارچې کولای شي زمونږهيوادوال دناخوالواو تراژديو څخه وژغوري اوپه ګران هيواد افغانستان کې دخلکودخيراوفلاح لپاره اسلامي وطني اوانساني ګامونه اوچت کړای شي ٠
واعتصمو بحبل الله جميعا ولا تفرقو٠
ترجمه : د خدای په رسی منګولې ولګوی او مه جدا کيږی٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اشر یا دخپلې خوښې کارونه

اشریا دخپلې خوښې کارونه په سیموکې دویالوپه پاکولو دویالود سر بندونو په جوړولو،دشولودنهالونوپه کرلو ،د سرکونواولویو لارو په جوړولواو همدارنگه په کلیواوباندوکې دبامونوپه کاگلولو،دکروندې د محصولاتوپه راټولولو،په مړي او ژوندي او ډیرنوروبرخوکې دسیمې داوسیدونکوپه شریکه همغږۍ په ټاکلي وخت اومعلوم پروگرام سرته رسیږي٠

دخپلې خوښې یو ځایي کارونه یااشراکثرا دکلیواو بانډو د اوسیدونکو او یا هم کله ددولتي اورگانونوپه غوښتنه تر سره کیږي٠

په لغمان کې دچاردهي دسیمې لویه ویاله دبي بي حاحب دزیارت په ساحه کې دالیشنگ دسیند څخه سرچینه اخلي اود راه دارياسخي پله څخه ورسته د چاردهي د سیمې د ځمکو په خړاوبولو او په ورځینۍ چاروکې دخلکوپه گټې اخستلوکې موهم اوحیاتي رول لري ٠

ددې اونورولویو ویالو داوبودعادلانه ویش په موخه هرکال دسیمې د اوسیدونکو له خوا نوی میراو یا د ویالې مسؤل ټاکل کیږي٠

ټاکل شوی میراو دنده لرې چې دویالې ،بندونواوسربندونو د جوړیدو اود هغودفعالیت څخه تل باخبره وي اود اوبو عادلانه ویش په نظرکې وساتي که نه نو دبې خبره اوبې انصافه میراودکارپه نتیجه کې د کلو داوسیدونکو دنفاق اوشخړولامل گرځي چې داشخړې اوستونزې کله بیا په مرگ،ژوبلې اودسرونوپه ماتیدو هم تمامیږي٠

په لغمان کې دگرمیو په موسم کې دلوړوغرونو واورې ویلې کیږي او په همدې موسم کې کله چې دتودوخي درجه لوړه شي دابودنشتوالي له وجې تپې،دښتې ، اودامانو نه وچ شي ،کله کله بیا په همدې موسم کې د دوامداره بارانونه او گلۍ اوریدل د تالنده او بریښنا سره یو ځاي په خوړونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودښتوکې د سیلابونو د راوتلو لامل گرځي چې دا سیلابونه دمالې اوځانې تاوانونو ترڅنګ دفصلونو اوکروندو دخرابیدو لامل هم گرځي٠

دا خړ سیلابونه دسیندونواصلي مسیر ته تغیر ورکوي، لوې،لوې ونې او کمرونه چپه کوي،کورونه اوڅاروي له ځانه سره په مخه کوي ٠

څنګه چې د اسیلابونه د وچو دښتو او شګلنو خوړونو څخه راوځي په همدې وجې شګې،خاورې اوخاشاک له ځانه سره لیږدوي اوددې لامل ګرځي چې د سیلابونو په مسیرکې پراته لوی ، لوی سربندونه ویجاړ اوپه ویالوکې دخاوروخړواوبوپه تیریدلوسره ویالې ډکې اوداوبوبهیر کم رنګه کړي،په همدې دلیل کلیوال هرکال دویالو دپاکولو اوسربندونو د بیا رغونې په موخه دخپلې خوښې کارونه یا اشر ترسره کوي٠

کله چې دالیشنګ دسیندد اوبو ذخیره یا دغرودڅوکو واورې د تودوخې د زیاتیدوله وجې اوبه شي ،دالیشنګ د سیند اوبه چې دچاردهي دسیمې ځمکې خړوبوي هم لږې شي چې وروسته بیاپدې سیندکې دیوې ویالې په اندازه اوبه هم نه وي ،په همدې دلیل ددې سیمې اوسیدونکي دخپل داړتیا وړاوبه دالینګار دسیند څخه چې دکال په هرموسم کې یې د اوبو پریماني ده راګرځوي ، هغه داسې چې دالینګار دسیند څخه یوه ویاله د همدې درې په استقامت پرتوغوندېیواوتیود پاسه چې پخوا رانښکل شوې اودچاردهي دسیمې په پیل کی دالیشنګ سیند سره وصله شوې ده ، دا ویاله هرکال پاکولو ته او ویجاړې برخې اوسربندونه یې بیا رغونې ته اړتیا لري،په همدې موخه دچاردهي دکلواوباندېواوسیدونکي د اشرونو یا دخپلې خوښې کارونو په سرته رسولوسره دخپلوځمکواودسیمې دابو د کموالي ستونزه حلوي ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شفیع ماما یا دکلی نائي:**

زمونږدکلی نائي محمد شفیع نومیده ،هغه به د کلي د مشرانو اوهلکانو د سر ویښتان اصلاح کول٠

دکلي هلکانودلنډوویښتانوسره دومره لیوالتیا نلرله خومشران دهلکانو د سردلویو ویښتانو طرفدار نه وه ،هلکان یې مجبورل چې دسرویښتان لنډ کړي خوسره لدې نائي به دهلکانو د سر ویښتان برابر او ښایسته جوړول ، هغه به نه هلکان او نه هم مشران خفه کول٠

شفیع مامابه دکلیوداوسیدونکواوهلکانوخبرپه میاشت کې یوځل اخیسته او د سر ویښتان به یې ورته اصلاح کول چې په اوجوره کې به یې د فصلونو د لوګړ په موسم کې په کروندو ګرځیده اوخپله برخه د لو شوي فصلونو صدرۍ یاګیډۍ ترلاسه کوله او وروسته بیا د درمند دتللو په وخت کې هم نائي ته برخه بیلیدله٠

شفیع ماما یواځې زمونږ دکلي داوسیدونکونائي نه وه بلکه د چاردهي د سیمې دنورو کلیواوبانډو اوسیدونکونائي هم وه چې دفصلونودلوګړ په موسم کې به دډیروغلو ، دانو څخه برخه مندوه ،هغه به تل په کلو اوبانډوګرځیده اوپه سیمه کې به دټولوپیښوڅخه باخبره وه نوکله چې به په سیمه کې کومه دخوښي،مړي یا ژوندی خبره وه هغه دنده درلوده چې د کلیواو بانډو اوسیدونکي پرې خبرکړي، همدارنګه په ښادیو کې هم د نائي رول ضروري وه ،ن ائي به د واده بلنلیکونه په کلو او بانډو ویشل او ښادي ته رابلل شوو کورنی دوستان او عقارب به یې پرې خبرول ٠

همدارنګه نائي به په ودونوکې درابلل شوومیلمنولپاره خواړه برابرول چې په پخلي کې یې هم خاص مهارت درلود،په خاصه توګه درنګارنګ پلونو ، قورمو او مزه دارې لغمانۍ شولې په پخولو کې یې ښه شهرت درلود٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



شفیع ماما ډیرمتواضع ،خدمتگاره اوخواری کښه نائي وه چې په غم او ښادۍ کې به زمونږ د کلو ، بانډو او د سیمې د اوسیدونکو سره پوره مرستندوی دکاراومنډو رامنډو سړی وه ٠

**د روژې مبارکه میاشت:**

دکلې اوسیدونکو به کله چې مازیگردکاراوکروندوڅخه کورته راستانه شول دمازیگرلمانځه وروسته به یې دروژه ماتې لپاره تیاري نیوله هغه داسې چې د کلي سپین ګیري،ځوانان او هلکان ټول دروژه ماتې لپاره د کلي جومات ته راتلل،هغو به د روژه ماتی برسیره اضافه خیرات یا نذر هم له ځانه سره راوړل ٠

د جومات ومخې ته د ماښام د لمانځه داذان څخه څو شیبې دمخه د کلي ماشومان راټولیدل،کله چې به ملاصاحب دماښام د لمانځه اذان شروع کړ الله اکبردنارې سره سم به ماشومان دکلي په کوڅوکې دخپلو کورنو په لور په منډو شول او په لوړاواز به یې ویل : روژه ماته کړی دروژه ماتې اذان وشو٠چې په همدې توگه به ماشومانو کورنیو روژه دارانو ته خبر ورکاوه ترڅوهغوي پهاطمینان سره خپله روژه ماته کړی ٠

د کلي اوسیدونکـــي د ماسختن د تراویح لمونځونو ته هرو مرو راتلل د تراویح لمونځ زمونږ له پاره ډیر په زړه پورې وه ، هلکان به حتمي لمانځه ته راتلل خو تعامل دا وه چې هلکان به د لمانځه په وخت کې د جمعې په ورستي صف کې دریدل٠

هلکان به روژه نیولوته هوسیدل ، دجومات ملا او دکلي سپین ګیروبه تشویقول اوویل به یې:په دې عمرکې روژه نیول ډیرثواب لري او خدای پاک یې تاسوته په دونیا او اخرت کې اجر درکوي ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خوږ ژبی سندرغاړی مرحوم ماجتي

ماجتي چې تل به یې پاکې جامې په تن وې او د پالاوی لنګی شمله به یې نیغه دروله دموسیقي دډیرالاتولکه هارمونیه،اکاردیون،ماندولین،ګیتار، شپیلی اونورسره پوره اشنایي او مهارت درلود، تل به د دغو موسیقي الاتو څخه یو ورسره لیدل کیده۰

ماجتي همیشه د خوښیو په محفلونوکې خوږې سندرې کولې چې ډیری سندرې یې دمینې اومحبت سندرې وې اوپه ډېر سوزاوګداز به یې خپلو مینه والوته په هنري محافلو کې اورولې ۰

له سندروڅخه یې داسې معلومیده چې هغه به چیرته زړه بایللی وي او دچاپه پټه مینه کې سوزیږي اوهمدې مینې دی شاعري ته هڅولی دی چې په حقیقت کې همداسې هم وه۰ هغه به د خپلې پټې مینې اظهار په سندرو کې داسې کوه :

مین چې شومه په ګل ببو
ستي یې کړمه په سرو لمبو

په رښتیا سره د ګل ببومینې ماجتي ډیر زوروه ، دهغه دا سندره ډیره مشهوره شوه،چې ورسته بیاپه کابل رادیوکې چې هغه وخت په هیواد کې یواځینی رادیو وه ثبت اوکمپوز شوې وه اوتل به ددې رادیوله لارې اوریدل کیدله۰

ماجتي ورسته ددې کړاونوپه نتیجه کې په ناعلاجه رنځ اخته شوچې دانا علاجه مریضي دهغه وخت دنري رنځ مریضې وه چې دې رنځ هغه دمرګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اونابودۍ لوري ته بیوه داسې رنځ چې معالجې ته یې هسې چې لازمه وه امکان نه وه برابر ۰ماجتي هم د خپل راتلونکي په هکله ښه پوهیده،هغه په یوه بله سندره کې چې شعر او کمپوزیې خپل وه داسې ویل:

افسوس افسوس زماپه حال چې مې ارمان پاته شو
لکه دګل په شان نازک مخ دجانان پاته شو
د ځنکدن اخرسلګۍ دي ترماراشه اشنا
دا دواړه سترګې مې نیولي ستا دیدن لپاره
درقیبانوپه لمسون شولې له ماکناره
په اخرت کې زمالاس ستاپه ګریبان پاته شو
لکه دګل په شان نازک مخ دجانان پاته شو
زنې مې وتړه په لاس دازمادی وصیت
رابانديې وایه خوکرته کلمه دشهادت
روح مې داستاپه انتظاردی رانه غواړي رخصت
زماپه زړه کې دا داغونه د هجران پاته شو
لکه دګل په شان نازک مخ دجانان پاته شو
دجنازی کټ ته مې چیغه کړه چې لاړی اشنا
سبا دوخته په مزارکې راته وکړه دوعا
زماپه شناختې باندې وکړه د زړګي تسلا
زمادقبرخاوري تاته یو نشان پاته شو
لکه د ګل په شان نازک مخ دجانان پاته شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



داســـتا د ســـترګوپه ګـــولۍ زړګـــی زمـــا شـــوقلم
ترسترګواوښـکې تویومـه سـات پـه سـات دم پـه دم
کـــه راتـــه راکـــړې دوایــــــي دســــرولبانوملهم
د مــاجتي ځینــې اخــر دغــه جـهــان پاتــه شــو
لکـه دګـل پـه شـان نـازک مـخ دجانـان پاتـه شـو

دا سندره زمونږ په کلیو اوبانډوکې ډیره مشهوره شوې وه او ورسته ماجتي د اسندره هم دکابل رادیوپه ستدیو ګانوکې ثبته کړه چې تل به ددې رادیو له لارې اوریدل کیده٠

ماجتي دنرې رنځ په نتیجه کې په ځوانه ځواني ورو ورو خپله روغتیا او صحي حالت له لاسه ورکاوه د هغه څخه په یوهنري محفل کې چا پوښتنه وکړه چې استاده صحت مو څنګه دی ؟ هغه په ځواب کې ورته وویل چې صحي حالت مې دومره داطمینان وړنه دی خو بیا هم کوښښ کوم ستاسو دخوښۍ په هیله څو سندرې تاسوته واوروم او د خپل دزړه خواله پدې سندرو کې له تاسو سره شریک کړم٠

په ربښتیا سره ماجتي خوږ او دمینې ډک اوازدرلودچې له بده مرغه د ژوندکړاونواوروغتیایې حالت هغه ته نوردا فرصت ورنه کړه چې دهنر په برخه کې څو نورګامونه اوچت کړي اودخپلې مینــې اوارمانوغوټۍ یې وغوړیږي ٠

ماجتي د نري رنځ په نتیجه کې ومړ، ډیر مینه وال یې جنازې ته راغلي وه، د هغه جنازه یې د چهاردهي دشاه ګذربابا دتپو ترځنګ خاوروتـه وسپارله،نوکله چې خلک دجنازه څخه راوګرځیدل،کلي ته درسیدوسره سم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه داسندره چې:

افسوس افسوس زماپه حال چې مې ارمان پاته شو
لکه دګل په ښان نازک مخ د جـــانان پـــاته شو

په هماغه شیبه دکابل رادیو له لارې خپره شوه، خلکو دلرې ځخه ددې سندرې په اوریدلونورهم غمجن شول او دحسرت اوتا ثر اوښکې یې تر سترګو تویې شوې، اومرحوم ماجتې یې دخپلوهیلواو ارمانونو سره یو ځای خاوروته سپارلی وه،خدای دې وبښی اوروح دې ښاد اوآرام وي٠

**یو ځوان ،هنري او ارثي استعداد**

وه بیغوره یاره،رنګ ته مې ګوره
اوس مې وکړه دیدنونه

دنن څخه څلورلسیزې دمخه لاځه وړاندې کله چې زه اوزمونږدعمر هلکان په مینځنی ښوونځی کې تعلیم کاوه اودلغمان ولایت په کلواو باندوکې مودخپل عمردنوې ځوانی خوږې شپې او ورځې تیرولې،په هغه زمان کې دولتي میدیا دومره پراخ فعالیت نه درلود ، داسې باور کیده،مسایل یا حوادث څنګه چې اوس په چټکی سره دخلکوغوږونو اواذهانو ته رسیږي،هغه وخت هم د هیوادپه ګوټ،ګوټ کې به ډیرې پیښې مینځ ته راتللې خودومره په ځغرده دخلکوترغوږونه رسیدې٠

په هغه وختونو کې دافغانستان په لویو ولایاتو کې لکه قندهار ، مزار شریف ، ننګرهاراویوشمیر نورو ښارونو کې دګوتوپه شمیر ورځپاڼې ، مجلې اوجراید دچاپه راوتلې چې اکثراځایي د دولتي ادارو کارکونکو ترې ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیستله ،عوامو ته بیا دومره په موقعې اطلاعات نه رسیده او د رسنیو څخه یې په موقع ګټه نشوه اخستلی ، خودا کار بیا په مرکزکې نسبي ښه وه،پدې ماناچې دوطـن دمشهورو ورځپانو،جرایدو او مجلوتر څنګ یوه راډیو هم فعاله وه چې دکابل راډیو تر نامه یې خپرونې کولې اودا رادیودهیوادهپه ګوټ، ګوټ کې داوریدلو وړوه اواکثره هیوادوالوبه ددې راډیونشرات تعقیبول٠

د کابل راډیودماهیت له نقطه نظره ښه وه، ښکلي پرګرامونه یې درلودل ، په هغه وخت کې دخبرنوترڅنګ ښکلې سندرې ډرامې او نور تفریحي پرګرامونه یې خپرول چې دهیوادوالو د پام وړګرځیدلي وه چې زما دغه لیکنه هم دهغه وخت دکابل راډیو څـخه دیوې ښکلې سـندرې خاطره ده چې ګرانولوستونکو سره یې شریکوم ٠

ددوبي دګرمیوپه موسم کې مودکلي نه بهر د نیکه په بڼ کې خپلو نږدې دطبعې هلکانوته د میلمستیا تیاري نیوله، دنیکه دباغچې صوفه موپه ګلمونواوتوشکوفرش کړه اودفرش شوي ځای نه لږڅه وړاندې دپخلي لپاره مو نغرى جوړ او د سون لرګي مو ورته برابراودکلي دهمزولوپه ګډون مودپخلي داړتیا وړمواد اولوازم ورته برابر کړل ٠

څه شیبه لانه وه تیره شوې چې میلمانه راغلل، هلکانوچاپه پخلي چا په خبرواترواوڅوک په نوروسرګرمیواخته شول ٠ما هم چې دسطرنج د لوبې سره لیوالتیا لرله دخپل یو دوست سره دسـطرنج په لوبې بوخت شوم ٠

څوشیبې وروسته ډوډۍ تیاره شوه ،ما دخپل دوست نه هیله وکړه چې اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



به سطرنج هم داسې هلته لرې کيږدو او د ملګرو سره به د ډوډۍ په تيارولو کې مرسته وکړو ٠

ملګري مې زما وړانديز و مانه ، سطرنج مو هلته لرې پـه يو مناسب ځای کې کېښود او دواړو د دسترخوان په سمبالولو پيل وکړ ،ريښتيا چې هلکانو خوندوره ډوډۍ پخه کړې وه ٠

ډوډۍ مو يو ځای د ميلمنو سره نوشجان کړه اود دسترخوان تر ټوليدو ورسته ماوا ملګري موخپله پاتې دسطرنج لوبې ته ادامه ورکړه ٠مونږ پوره دڅوتختود سطـرنج لوبووروسته لږه دماغي ستړيا احساس کړه ٠مامې ملګر ته وويل :راځه سطرنج به بس کړواوددوستانوسره به ګپ ،شپ ولګوو ٠

ملګري مې هم ومنله،سطرنج موټول کړچې ګوروهلکانود تورو او شنو هيل داره چايو پطنوسونه دمساله دارې ګوړې ، کشمش او نخودو سره د ميلمنومخې ته کيښودل ٠

ماهم خپله وړه راډيوروښانه کړه اودراديو ستنه مې دکابل راډيوپه پري کانسيوبرابره کړه چې په لمړي ځل مودښاغلي مزاري نجرابي په ښکلې اوماشومانه غږ کې دا سندره واوريدله:

وه شالونګينه ياره

چاته مه وايه حالونه ياره

ما د قيامت تمه لرله يار ه

تا رانه واخستل بدې دنيالاسونه ياره

وه شالونګينه ياره٠٠٠٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سندره د ښاغلي مزاري نجرابي په ښکلي او خواږه اواز کـې داسې ښکلی کمپوزشوی وه چې تمام میلمانه اوهلکان ورته غـوږ غوږ شول اوپـوره خوند موتری واخـیست چې ددې سندرې خونداوخاطره تراوسه هم زمونږ دعمرهلکانو اوهیواد والو په ذهنونو کې پاتې ده ۰

داسندره دومره مشهوره شوې وه چې هره ورځ به د راديو افغانستان د فرمایشي سندروپه پروګرام کې نشرته رسیدله او خورا ډیر اوریدونکي یې درلودل ۰

وختونه تیرشول زمونږدوطن دکورني اوبهرني دښمنانودناجایزه مداخلو په نتیجه کې زمونږهیواد دبدبختوسره مخ اوډیروقربانیوترځنګ زمونږ ډیرشمیرهیوادوال اجباري مهاجرتوته اړشول او اوس په نړۍ کې داسې ملک نشته چې هلته افغانان نه وي مهاجرشوي چې دا دمهاجرت څپېړو زما مخ هم راشین کړی دي او دخپل د ځوانۍ کلونه او وختونه مې لکه دنوروهیوادوالوپه څیرهره شیبه سترګوته دریږي ۰

**رابه شو اصل مطلب ته:**

د ورځو له یوي ورځې څخه مې خپلې لیکنې اوځه شعرونه په کمپیوتر کې تنظیم کړل ۰ لږ ستړی شوم ،کمپوترمې بندکړ اودتلویزون یا دمیلمنو خونې ته راغلم زمونږتلویزون دستلیت نه په استفادې سره اکثرا افغاني کانالونه نیسي ، همداچې تلویزون مې روښانه کړ ، دنوي ځوان سندر غاړي غږ مې ترغوږشو،چې دومره خوږ او ښکلی کلیپ شوی وه چې نه پوهیږم ولې مې هغه دنیکه دباغچې دمیلمستیا خاطره راپه زړه شوه اودښاغلي مزاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجرابي دسندرې مینه مې پرې ماتوله٠سندره ما ددې ځایه واوریده:

سبا به هغه ستر ګې ژاړي

په کومو سترګوچې نن کیږي دیدنونه

وه بیغوره یاره ، رنګ ته مې ګوره

اوس مې وکړه دیـدنونه

چې مې بیغوره یار خبریږي

په مابه جوړ وي تورو خاورو انبارونه

وه بیغوره ٠٠٠٠

سندره مې ترپایه واوریده اوددې ځوان او خوږ ژبي هنرمند د پـیژندلو په لټه کې شوم چې ورسته له ډېروپوښتنو اومعلومات څخه دا پته راته ولګیده چې داځوان سندر غاړی میرویس نجرابي نومیږي او د مرحوم خوږ ژبي سندر غاړي مزاري نجرابي ځوی دی چې د ښوونځی د درس اوتعلیم ترڅنګ دپلار دسبک ،غږ او هنر وارث او پیروهم دي٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لغمانی اوګره اود هغې ډولونه

*د الحاج نجم الدين سعيدي ليکنه:*



لغمانی اوګرې ،د پخولو ترتيب اود هغه دډولونو په اړه ښاغلي نجم الدين سعيدي په زړه پورې مطالب راټول کړي چې دسعيدي صيب ليکنې ته بې له تصرفه په دې برخه کې ځای ورکړ شوی دی ، هيله ده چې ددرنولوستونکو د پاملرنې وړ وګرځي٠

**دپخولو ترتيب :**

اوګره او د هغه دپخولو ترتيب ډيرساده او اسان دی هغه داسې چې غنمې وريجې دګرمو اوبو سره پاکې پريمنځي کله چې وريجې بريمنځل شوې په ايشيدلو اوبو کې يې ترهغه ويشوي چې نرمې شي چې دغه نرمې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غټې وريجې داوګرې په نامه يادوي چې په لاندې مختلفو ډولونو ترې ګټه اخيستل کيږي ٠

**لمړی- اوګره دکرتو سره :**

کله چې اوګره پخه شي هغه په نا شکن ياعادي غوري کې راباسي اود غوري په مينځ کې ښکلی ځرخنی ورته جوړوي اوپدې ځرخني کې سولول شوي کرت چې مخکې يې په کرتمال کې

سولولي وي ځايو ي او بيا زيړ غوړي ، واز ده ياعادي غوړي په ارکاره کې ښه سره کوي او په ځرخني کې دسولول شوو کروتوله پاسه اچوي ،ورسته بيا په غوري کې د اوګرې له پاسه سابه، شلغم ،پخه شوې وچه غوښه دلوبيا سره په ښکلي نظم ځا يوي او د دسترخوان په سر يې ګدي چې دتعامل سره سم هرغوري د دوو څخه تردرې کسانو لپاره او که دکورنيو اويا دميلمنو شمير ډير وي په همغه اندازه د غوريو شمير هم ورزياتوي ٠

کله کله په اخر کې د اوګرې ځرخنی ورانوي او کرت او اوګره ګډوی چې هغه ګډه شوې کرت او اوګره بياځانله خونداوطعم لري ٠

**دوم- اوګره دکنډ يا دغوا د عادي شيدو سره :**

کنډ :هغه شيــدې دي چــې غوا يې نوی خوسکی زيږو لی وي، پدې ډول اوګره کې په ځرخني کې کنډ يا شيدې ځايوي اوکله کله سره شوي غـوړي هم دپاسه پرې اچوي ٠

**دريم -اوګره د مستو يا شړمبو سر :**

داهم دهمغې اوګرې يوه بله نمونه ده چې په ځرخني کې يې مستې ځايو ي٠

دشړومبو سره اوګره په شړومبه کې ګډوي او د نوش پياز يا عادي پياز سره ترې استفاده کوي ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



شړومبې اواوګره د لغمان په چارباغ کې ډېررواج لر ي ، ددې سيمې خلک د شپې له خوا اوګره پخوي او د شړومبو سره يې ښه ګډوي ورسته د دې ګډې شوې اوګرې سر ور پټوي او د بيالې ترغاړې يې داوبوپه سرګدي اودسهارله خوا تــوله کورنۍ په دسترخوان سر راټوليږي اويوځاى ترې استفاده کوي ٠

**څلورم - اوګره د لاوندۍ سره :**

لاوندۍ يا (کړو)يو مخصوص تعم دی چې دشړومبو څخه يې جوړوي هغه داسې چې د مستو شړمبه په يوظرف کې اچوي او يواندازه اوړه ورسره ګډوي ترڅو اوړه په شړومبه کې ښه حل شي او په نغري يې ګدي ترڅو ښه وايشول شي پس له هغه په ارکاره کې څه ميده شوي پيازپه غوړيوکې سره کوي اوپه ايشل شوي شړمبه کې چې اوړه په کې حل شوې ورزياتوي او د څمڅۍ سره يې نور هم خلتوي چې پس له يومعين حرارت څخه خوندورلاوندۍيا (کړو)ترې جوړيږي چې دا لاوندۍ داوګرې په څرخني کې ځايوي اوکله کله دسره شوي غوړي هم د پاسه پرې اچوي او په خوند او مزې سره ترې استفاده کوي ٠

**پنځم -شوله :**

شوله دغټو وريجوڅخه جوړيــږي ، هغه داسې چې اول په غوړيو کې څه پياز سره کوي او ورسته څه اوبه يا د پخې شوې غوښې ښوروا پکې ور زياتوي کله چې داښوروا وخوټيدله پريمځل شوې غټې وريجې پکې اچوي چی پس له معين حرارت څخه ورته دم ورکوي او پس له هغه وازده په ارکــارۍ کـې سره کوي او دشولې د پاسه يی اضافه کوي چی خوندوره شوله تری جوړيږي ٠

د اوګرې يو بل قسم سبوناکه ده چې په شوله کې سابه ورګډوي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبوناکې به نامه خوندوره شوله ترى جوړیږي چې د هغه دپاسه هم د وازدې یا غوړیو جغ باسي ٠

د اوگرې نوراقسام زموږ د گران هیو ادو په نـور ولایاتو کې هم مروج دى لکه د پکتیا اوخوست په مناتقو کې چې د ډنډکي په نامه یې یادوي اوپخول یې د لغمانۍ اوگرې سره فرق لـري ٠ همدارنگه دکابل په شمال کې لکه گلدره، شکردره او غوربندکې چې دشولې غوربندي په نامه یادیږي په هغه کې کوفته،لوبیا او ترخه مرچ ور گډوي٠

بایدوویل شي دغتیو وریجورواج دشرقي هندوچین څخه افغانستان ته انتقال شوى چې دپخولو ترتیب یې د نورو هیوادوسره توپیر لري ٠

په لغمان کې داوگرې یا غټووریجو د استفادې ترڅنگ دمینو وریجو څخه چې د سرده دریدونۍ او یا گرمه وریجوپه نامه یې یادوي هم استفاده کیږي او دلغمان په مختلفوسیمو کې لکه د الیـشنگ او الینگار په درو کې ، د چاردهي ، حیدر خاني ، ماشه خیل مندروړ ، قرغیو او ډیرونورو ځایوکې کرل کیږي ٠


لغمانۍ وریجې زموږ په وطن کې خاص شهرت لري اودهغه څـخه خوندور پلو ، دمپخت ، شکربټه او قابلي پلو پخـوي چې زموږ د هیوادوالو دسترخوان ته ځانگړى خوند او رنگ ورکوي ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سولې اوتفاهم دلارې مبارز

مولانا محمدسعید سعید افغاني لنډه پیژندنه،لیکنې اواثار:



علامه دوکتورمحمدسعید«سعید افغاني»زمونږدهیوادمشهورعالم،لیکوال ،مولف،استاد اواجتماعي شخصیت وچې تل یې دسولې،ترقي ، وروري ، برابري او تفـاهم لپـاره مبارزه کوله، ددې نومیالی پوه دروند نوم هم په وطن کښې اوهم دنړی په نوروهیوادونـو کښې خپوراو مشهور دی۰

محمد سعید په کال ۱۳۰۰هجری شمسی ( ۱۹۲۲میلادی ) کی دلغمان ولایت دخیرآباد په کلي کې ژوند ته سترگې پرانیستې ،هغه دخپل دپـلار مولانا غازي عبدالمجید « رحمهّ الله علیه » چه د خپل وخت له مشهور مجاهدو ،مدرسانو اوهم د لغمان ولایت د تیگرو د ښار د جامع جومات خطیب او دقادري طریقې دمشهوروماذونانوڅخه و،اوهم دنورو مخورو روحانیونو څخه ،خپلې لومړنی زده کـړې وکړې او هملته ښایسته ښه مـلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو۰

وروسته بیا محمد سعید دکابل دعربي دارالعلوم ته شامل شو،کله چې په ۱۳۲۵هجری شمسي کال دغـې مدرسې نه فارغـیده اوپه سریې د مولوي توب پګړۍ وتړله شوه،دخارق العاده استعدادپه اساس سمدستي همدلته د استاد په حیث ( کادر علمي ) مقررشو ، او بیا د ننګرهار دنجم المدارس دمدیرپه حیث وټاکل شو .

یوڅه موده دپوهنې او روزنې د وزارت د مسلکي تدریساتو غړی شو او بیا بیرته د نجم المدارس مدیراو وروسته د حبیبیې لیسې ته ددیني علومو ښوونکی په حیث را بدل شو۰

سعید افغاني په ۱۳۴۲هجری شمسی کال مصرته ولاړ اوتر ۱۳۴۷ هجری شمسي کاله پورې په « جامة الازهر » کښې دفلسفي اوالهیاتو په زده کړه بوخت و،اوڅه موده په قاهره کې دپښتو رادیو یې خپرونو نطاق اوآمر هم و۰

سعید افغاني همدلته یې دهیوادتاریخ نړیوالواوعربي نړۍ ته پراخه ور معرفي کړاوخپله یې هم دعربي نړۍ له هغوآثاروڅخه چې د افغانستان اوافغاني شخصیتونو په هکله لیکل شوی ووخپلې تاریخي څیړنې مخته بوتلې،ده په( پښتودری او عربي)ژبوآثارولیکل اوپه هغو دوو مشهورو آثاروسره چې دسیدجمال الدین افغان اوخواجه عبدالله انصارپه هکله یې په عربي ژبه ولیکل دغـودووځانګړو افغاني شخصیتونوته چې یو یې د سیاست او فلسفې د ډګـر وتلی شخصیت واو بل یې په تصوف کې ځانکړی مقام درلود تلپاتې والی وبا ښه . او په خاص ډول هغه د اسلام دیـن چه د « عشق ،محبت ، عاطفې ، صلح اوسلم » پر بنیاد ؛ اسماني دین دی ،بشریت ته ورمعرفي کـړ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعید افغاني دخدایي استعداد په اساس په څلورنیمو کالو کې د الازهر پوهنتون څخه « لیسانس ،ماستري او دوکتورا) واخسته او وطن ته راستون شو ، نو لومړی د عالي دارالمعلمین د استاد په توګه دنده تر سره کړه او بیا ورسته د کابل پولي تخنیک ته ولاړ۰

د هغه ملي ، ټولنیز ،عدالت خوښونکی شخصیت هغه وخت ښه و ځلید چې دې دکابل پوهنتون او کابل پولي تخنیک ته عمدتآ د تاریخ د استادپه توګه راغی ،او د وخت دمحصلانو اواستادانو د دموکراتیکو مبارزوله لړی سره دخپل دیني اومذهبي مقام له ساتلوسره سم یوځای شو اوهمدلته دکابل پوهنتون داستادانو له خوا دهغه وخت داستادانود اتحادیې غړی او بیا دعـالي شورا د مـرستیال په توګه انتخاب شـو۰

استادسعید افغاني دکابل پوهنتون،کابل پولی تخنیک اوعالي دارالمعلمین داستادی په وخت کې د ځوانو محصلانو او استادانـو له ځانګړی احترام څخه برخمن، او هغوئ ته به یې د ژونـد او مبـارزی په هکله د ارزښت وړمشورې ورکولې،دده ټو لنیزشخصیت دومره اوچت وچې آن دښمنان یې هـم د ده په وړانـدی سر ټیټولو ته مجـبور و۰

واقعیت دا دی چې د روحانیت په مقام کې داسې اشخاص لکه دعلامه سعید افغاني ، په خیر مونږ ډیرکم پیژنوځکه دی هم عالم وهم روحاني ،هم ملا واوهـم خطیب،هـم سیاست مدارو اوهم پخپله لیاره کې ریښتنی ، هم په فلسفه کې وارد واوهم په الهیاتوکې ، ده هم په دیني علوم کې لاس درلوده اوهم په اجتماعي علومو کې، دی هـم محقق وو او هـم ژورنالیست ،لنډه داچې دی خپل رول یې د یو واقـعي افغان او واقعي مسلمان په حیث په نړیواله سطح کې ولو با وه ، اوهم پیشقدم وو۰

علامه سعیدافغاني له بشري ټولنې سره له هرډول توپیراوتبعیض پرته مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلـوده او د نړۍ والې سولې یو پیژنـدل شـوی مبـارز و ، ده نه یـوازې په زیاتو نړیوالوهغوسیمینارونـو کې بـرخه واخیسته چې سولې ته وقف شوی واوپدې مبارزې کې یې دابوعلي ابن سینازرمې کالیزې جـایزه ترلاسه کـړه بلکې ده د«هستوي جنگ » ترنامه لاندې یوداسې ژوندی اوعلمي تحقیقاتي اثر ولیکه اوچاپ شو ، چې نن یی د سولی په برخه کې دلیکل شوي آثارله ډیرې غـوره نمونې څخه گڼلی شـو، دغه اثر اوس په ملي او نړیواله سطحه یو تحقیقاتي منل شوی اثر گڼل شویدی٠

سعیدافغاني آن دروانې پیړۍ څلورمې لسیزې په پیل کې ځانگړې هڅې وکړې چې په هیواد کې د ملي یووالـي لپاره د یو پراخه ملي جبهې ضرورت خلکو ته په گوته کړل او هغه دیو داسې ټـولنیز پرمختگ او ټـولنیزبدلون سره چې دبیعدالتیوکمپله ټوله کړي مینه درلوده ،په همدې وجه وچې په کال « ۱۳۵هجری شمسي» کښې د قضاعالي شـوراغـړی اوورپسی دتمیزدعالي محکمي ریس ( قاضي القضات) شــو،وروسته داسلامي شئونو وزارت په راس کې ټاکل شـو،او بیادوخت دملي جبهې مرستیال اوهـم دعلما او روحانیون عمومي مشر شــو٠

**دعـلامه سعیدافغاني لیکل شوي آثاراو تالیفات :**

ـ شیخ الاسلام عبدالله الانصاری الهروی، په عربی ژبه ،د چاپ کال ۱۹٦۷ ٠

ـ نابغة الشرق سید جمال الدین الافغانی ، په عربی ژبه د چاپ کال ۱۹٦۷٠

ـ د شرق نابغه سیدجمال الدین افغاني ،په پښتو ژبه، چاپ ١٣٥٥ .

ـ افغانستان ، تاریخآ و حضارتآ و کفاحآ ،په عربی ژبه ، ناچاپ .

ـ العقیده الاسلامیه وآرا المعتزله والاشاعره والماتریدیه واختلافاتهم ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ الاشارات و التبهات ابن سینا، په پښتو ژبه ، دچاپ کال ۱۳۵۹ .
ـ تفسیر، دیو لسم ټولګی لپاره په پښتوژبه٠
ـ تفسیر ، د یو لسم ټولګی لپاره په دری ژبه .
ـ عقاید ، درسی کتاب ٠
ـ منطق ـ درسی کتاب .
ـ اساسات اسلام به نګاه علم و فلسفه ـ د دارالمعلمین ۱۳صنف لپاره.
ـ اساسات اسلام از نګاه علم و فلسفه، د دارالمعلمین ۱۴ صنف لپاره.
ـ کلتوراسلام از نګاه علم و فلسفه،په دری ژبه، د ۱۳۴۹ کال چاپ .
ـ مختصر تاریخ افغانستان و دول متمدن اسلام . پولیتخنیک کابل .
ـ محمد« ص» رهبربزرګ اسلام، د ۱۳٦۳ کال ـ چاپ ٠
ـ پلاروطنه ملی جبهه او یا دلته دتولنیزوستونزو د حل لار، د۱۳٦۲ کال چاپ .
ـ خطرجنګ هستوی ،په دری ژبه، د ۱۳٦۳هجری شمسی کال چاپ .
ـ انـدرزونه ـ په پښتو ژبه ، ناچاپ٠
ـ آداب قاضی ، په دری ژبه .
ـ والصلح خیر، صلح و آرامش از دیدګاه اسلام ، د ۱۳٦۲کال چاپ .
ـ زندګی مسلمانان ، په دری ژبه دکال ۱۳٦۳ چاپ .
ـ انـدرزونه ـ په دری ژبه ،ناچاپ٠
- در باره ادیان و دین اسلام ، په دری ژبه نا چاپ٠
- اخلاق و فلسفه،په دری ژبه نا چاپ٠
ـ د نجات او کامیابي لپاره علم او فلسفي له نګاه، د ۱۳۷۰ کال چاپ .
ـ امراض روحی و معالجه آن ناچاپ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ الاخلاق و التصوف ـ په عربی ژبه ، ناچاپ٠

ـ سفر، د ۱۹۸۲ میلادی کال چاپ٠

ـ خلاصه اندرزها و نصایح سودمند برای ستاژیران قضا ، چاپ٠

ـ ارکان ، شرایط و احکام نکاح ـ ناچاپ .

ـ طبیب بگو مرضم چه و چاره چیست ؟ ، ناچاپ .

ـ مبادی اسلام ، د ۱۳٦۹ کال ـ چاپ .

ـ حاکمیت انقلابی ، نا چاپ .

ـ تعبیر ـ په پښتو ژبه ـ ناچاپ .

ـ د باختر اطلاعاتی اژانس مطبوعاتی مصاحبه ـ د ۱۳۴۷ کال .

ـ انقلابی افکار ، هڅی او هیلی ـ ناچاپ .

ـ زما ژوند ناچاپ٠

سعید افغانی ددوه زرونه زیات مذهبی ،فلسفی ،تصوفی ،اجتماعي و ادبی مقالی لیکلی چه په خاص ډول دی « انیس ، هیـواد، پامیر ، کاروان ، ننگرهار ، پیام حق و قضا » په روز نامو او مجلو کی خپری شوی دی٠ عـلامه سعید افغانی د ۱۳٦۴ د حوت په او ومه « د ۱۹۸۵د فبروری ۲۵مه» دافغانستان د طـبی علومواکادمی په روغتون کښی ؛مهـربان، خواخوږی اوتپاند زړه و دریـد او په سبایی په کابل کښی ، دجابرانصار« علیه الرحمة » دمـزارتر خنگ ، دشهدای صالحیـن په هـدیره کښی په درناوی خاورو ته و سپارل شـو٠

انالله وانا الیه راجعون

روح دې ښاد وي

امین یارب العالمین

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په لغمان کې اوسيدونکي قامونه او پرګنې

دکتور محمد سعيد«سعيد افغاني » په خپل کتاب کې چې (زما ژوند) په نامه ياديږي او په کال (١٣٦٥) هجري کې خپور شوی په لغمان کې اوسيدونکي قامونه او پرګنې په لاندې ډول شرحه او معرفي کړي دي :

اول : « ساپي »

په افغانستان کې د صافيو قوم يو لوی او مشهور قوم دی چې وايي ددوئ اول نيکه د قندهار دغوږی مرغی څخه راغلي دي او ددوئ نسبي سلسله د پښتنو په قامونوکې په درانيو باندې ګډيږي، وايي صافي په غلجيونه ګډيږي بلکه د غلجيو سره د درانيو په وسيله وروړګلوي لري ٠

دصافيو د قامونو غټې ريښې په لاندې ډول دي ٠

الف – ودير

ب - ګربز

ج – مسود

د « ساپيو » د قوم پرګنې په ټول افغانستان کې خپرې دي خودافغانستان په شمالي برخه کې ، کوه « ساپي » محمود راقي ، کو هستان ، او تګاب ددوئ اصلي او مهم مرکزونه دي. ا و په مشرقي کې د کنړ « ساپيان » شهرت لري او هغه ځای دڅوکۍ په لسوالۍ ، با ډ يل،مز ار ، دپيچ په دره ، د سر حد څخه اخوا په سره کمر او د کنر په نورو سيمو کې اوسيري . ساپي به کامه کې لويه سيمه لري ، ساپي په لغمان کې دعمرزيو ، سالاب ، ګړګړ ،باړيخی ،صبر اباد ، په سيمو کې هستوګنه لري ، په الينګار کې نازي هم « سا پيان » دی ٠

وايي : چې په کوزه پښتونخوا کې وزير هم په اصل کې د ودير صافيو يوه ريښه او مسود يې بله ريښه ده ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلغمان په عمرزيو کې صافيان په درې پلرونو تقسيم شويدي ٠
١- د خير محمد بابا اولاده ده چې د خير اباد کلی يې مرکز دی او لاندې ريشې لري٠
پايه خيل ، ياسين خيل ، تورخيل ، اياز ٠
٢- د عبدالمحمد بابا اولاده چې په ادو خيلو مشهور دي ٠
٣- دابراهيم باباچې په ابرهيم خيلوياديږي اوس په عمرزيي کې دخير محمد بابا اولاده ديره ده خلک عاجز او په اقتصادي فشار مواجه دي، ولی دغه خلک ډيرزړه ور او په ميړ انې شهرت لري.

**دويم : د ساک ، سهاک :**

دساک قوم د لغمان ولايت په مرکزي سيمو کې اوسيږي او ددوئ ريښې موسی خيل او شمشير خيل دي اود افغانستان په نورو سيمو کې هم هستوګنه لري ٠

**دريم - تره خيل :**

دوئ د لغمان ولايت د تنديو په کلي کې اوسيږي او زياتره يې دکابل شمال شرق خواته د ترخيلو په قريه کې هستوګنه لري چې ددوئ يو څو با اعتباره خلک د وخت ددربار قابچي باشيان وه او د پور اعتبار خاوندان کڼل کيدل ٠

**څلورم : رستم خيل:**

ددوئ څه ميشته کورونه د لغمان د ارمل به قريه کې اوسيږي او څه نور يې کوچيان دي چې داوړي په موسم کې يخو سيموته ځي اوپه ژمي کې بيرته لغمان ته راځي،مالداري اوسودا ګري ددوئ کسب دی ٠

**پنځم – خروټي :**

دوئ دلغمان د عمرزيو د علاقې په جنوبي برخه او د افغانستان په نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخو کې اوسیږي او ډیر مشهور قام دی ۰

**شپږم : عبدالرحیم زي:**

دلغمان ولایت د مندرور په سیمه کې اوسیږي او په کابل کې هم کورونه لري په دوئ کې ښه با همته خلک تیرشوي دي ۰

**اوم -هودخیل:**

دوئ په ودخیلو شهرت لري او د لغمان د قرغیو د ولسوالۍ په برخه کې لویه سیمه لري او پـــه کابل کې د کابل شرقي خوا ته اوسیږي.

**اتم - جبار خیل:**

دوئ دلغمان د قرغیو د ولسوالۍ په سیمه کې معزز کورنۍ دي . په دوئ کې د قامي ملي مشران اوتاریخي خلک تیر شویدي ۰

**نهم - تره کي:**

دوئ دلغمان دولایت په ځینو سیمو کې میشته او کوچي کورونه لري او اوښانو او څارویو په روزنه مصروف دي او د افغانستا په غزني او قندهار کې شتون لري.

**لسم - پشه ئي:**

دوئ دلغمان ولایت تر څنګ یوه کلی لري چې د پشه ئي کلي په نامه یادیږي ، دوئ ځانته خاصه ژبه لري چې هغه هم په پشه ئي یادیږي . دغه ولس د الیشنک د درې په لوړو برخو لکه دولت شاه او فراجغان کې هم او سیږي او په پشه ئي ژبه خبرې کوي ۰

**یولسم - هزار میښ:**

دوئ دلغمان ولایت د تیرګړو په علاقه کې پراته دي او غریبکاره خلک دي

**دولسم - میچن خیل:**

دوئ دلغمان د عمرزیو د علاقې شمال ته یو لوی کلی لري دوئ هرې خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



گر ځي او د نظرانې په ټولولو کې مصروف او دښه مهارت خاوندان دي ۰

**دیارلسم - ناصر:**

دوئ دلغمان ولايت د مندروړ د سيمې په جنوبي برخو کې ، او همداغسې د کابل شکردره او د افغانستان په نورو سيمو کې اوسيږي دا خلک زړور او جنگيالی دي ۰

**څوارلسم – اکاخيل :**

دوئ هم دلغمان د عمرزيو دمنطقې په شمالي برخه کې ميشته او کورونه لري د اوښانو او رمو روزنه کوي او د غره ځخه لرگي راوړي او خر څوي يې ۰

پنځلسم – ديگان ( دهکان):

دوئ په دري خبرې کوي او کورونه يې د افغانستان په نورو سيمو کې هم شته ۰

**شپاړسم – محمد زي :**

دوئ ځای ځای کورونه لري او د محمد زيو پا د شاهي کورنۍ په وجه دوئ هر چيرې ښې آبادې ځمکې تر لاسه کړي دي ۰

**اولسم - ريکا گان:**

دوئ دلغمان ولايت د چاردهي په علاقه کې محدود کورونه لري او دکابل ريکا خانه ددوئ اصلې مرکز دی.

**اتلسم - عمرخيل:**

دوئ دلغمان د چاردهي ( شاه گذربابا او قلعه اخوند کلي تر خنگ ) کې زميند‌اره کورنۍ د ي او د کابل په ميدان کې هم زياتې ځمکې لر ي ۰

**نولسم - وريا خيل:**

دوئ د لغمان د ولايت د عمرزيو د علاقې په لر او بر کې هستوگنه لري او خلک يې کاريگر او دهقان کاره دي دوئ د کابل په پغمان او دبغلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولایت په مرکز کې هم ځمکې او کورونه لري.

**شلم – وردګ :**

دوئ دلغمان ولایت د عمرزیو دعلاقــې په جنوبي برخو کې اوسیږي او په کابل کې د وردګو په علاقه کې مشهور قوم دی ، په دوئ کې ښه د کار او میړانې خلک تیر شویدي او د انګلیسانو داستعمار په مقابل کې د غازي محمدجان خان مبارزه د هیریدو نه ده دا قام تل په سیاسي جریاناتو کې لاس او برخه لري ۰

**یویشتم - تاجک :**

دوئ په لغمان او د افغانستان په نورو ولایاتو کې اوسیږي ژبه یې دري ده۰ چې دفارسي ژبې سره لږ تو پیر لري. وایي دري د دربار ځخه اخستل شوی او دا ژبه یو وخت د درباریانو ژبه وه ۰

**دوه ویشتم– میرعلي خیل :** دوئ دلغمان د باد پښ په علاقه او نورو سیمو کې اوسیږي ۰

**درویشتم - نیازي:**

دوئ دلغمان د ولایت داعلینګار په سیمه کې پراته دي ددوئ کورونه د کابل جنوبي خواته هم شته ، وایي دوئ د صافیو یوه ریښه ده۰ څوک وائي : چې دوئ مستانه کورنۍ ده.

نیازي په کندوز اوخان آباد کې هم ځمکې اوکورونه لري ،چې غټ کلي ئې ملرغی نومیږي نیازي د پاکستان د پنجاب په سیمه کې هم ډیر شمیر او سیږي . نیازي د تخار ولایات د تالقان دمرکز او مربوطاتو کې لکه دقو لبرس په سیمه هم او سیږي ، خصوصآ په قو لبرس کې ډیرې ځمکې او کورونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورويشتم -اړوکي:**

دوئ د لغمان د الينگار په منطقه کې اوسيږي او ددوئ تر څنگ خاڼی او اختيار خيلو په نامه نور پښتانه قامونه هم پراته دي ٠

**پنځه ويشتم _ الکوزي (الکوځي ):**

دوئ په لغمان کې لږې کورنۍ پيدا کيږی مگر د افغانستان په نورو ولاياتو کې هم شته او مشهور قام دی٠

**شپږويشتم : سادات :**

دوئ دحضرت محمد صلی الله عليه وسلم اولاده ده په لغمان کې ځای په ځای کورونه لري ، دوئ ته ميران او پاچايان هم وايي په لغمان کې خواجه گـــان د ابوبکر صـــديق ( رض ) «حضرات » او د حضرت عمر فاروق اولاده هم شته ٠

**اوه ويشتم - لطف الله خيل:** دوئ دلغمان ولايت د تير گړو خانان او هلته د سنگ توودې ( سنگ تودو) د قريه اوسيدونکي دي٠

**اته ويشتم – بابکر خيل :** دوئ د لغمان ولايت د الينگار د سيمې مشهور خانان دی او په کابل کې هم کورونه لري ، او درباري خلک ۇ.

**نه ويشتم – نورستاني :**

په لغمان کې ددوئ کورونه شته خو د لغمان شمال ته د نور ستان سيمه يوه لوی ولايت دی چې اکثره يې په ځانگړې ژبه غږيږي (سانسکريت ) ، دوئ د اميرعبدالرحمن په زمانه کې تابع او مسلمان شويدي د امير حبيب الله خان په دوره کې ددوئ ډيرې ښځې او نجونې دوينځو په توگه دهغه دربار کې خدمتونه کول . چې د امير امان الله خان په دوره کې آازادې کړل شوي٠

د نورستان دخلکوبچيان د امير عبدالرحمن خان په دوره کې دربار ته لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيدا کړه چې په دې اثر ډير پاخه او پوره خلک پکې وروزل شول چې بيا ورسته د افغانستان په اجتماعي ، ساختماني سياست او ازادي په ساحه کې لوی رول درلود ، امير حبيب الله په لغمان کې د قلع السراج تعمير او باغ اباد کړ ، دا ځای په ژمي کې د امير حبيب الله ژمني پلازمينه وه چې د بچې سقاو په وخت کې دا دملت په پيسو اباد شوی تعمير وران او ويجاړ کړ شو ، امير حبيب الله خان به د لغمان په کله گوش کې هم ميلې چړچې او شکار کا وه چې اخر هم هلته د شپې له خوا په خيمه کې د يو نامعلوم شخص له خوا وويشتل شو دده د مرگ څخه وروسته دده ځوی امير امان الله خان باچا شو ٠

**ديرشم – درگي:** دوئ دلغمان ولايت په شمال شرق د شمنگل په قريه او د درگو د اوبو له پاسه کلو کې اوسيږي او کوچيان هم لري ٠

**يو ديرشم – علی خيل:**

دوئ د لغمان ولايت په شمال شرق دشمنگل او صابره ډوپې کلي کې اوسيږي او څه کورونه يې په کابل کې هم شته ٠

دوديرشم – ابراهيم خيل : دوئ د لغمان د ولايت د مندروړ په علاقه کې شاو خوا ميشته دي ٠

**دري ديرشم – محمد خيل :** دوی د لغمان په ولايت کې هستوگنه لري

**څلور ديرشم – خيرو خيل :** دوئ لغمان د ولايت د مندروړ په جنوبي ساحو کې پراته دي ٠

**پنځه ديرشم – قولان :**

دوئ لکه د کوچيانو په شان کابل او مشرقي او په خاصه توگه کابل ، لغمان ته تگ راتگ کوي او د تجارت کسب يې درلود مگر اوس يې په کابل کې ډير کورونه او تجارتونه پيدا کړي دي ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږ دیرشم – اهل هنود :**

دوئ هم دلغمان ولایت د تیر ګړو په کلي کې ساکن دي او هلته ځانله درمسال لري چې خپل ديني مناسک هلته اجرا کوي دوئ هم تجارت پيشه دي او د تيرکړوپه پخواني بازار او اوس دلغمان په ولایت کې دوکانونه لري٠

درنو لوستونکو!

د لغمان په ولایت کې اکثر خلک په پښتوژبه خبرې کوي او په دوهمه درجه کې دري ژبه ډیرویونکي لري اونورې ژبې يې لکه پشه ئي او نورستاني او شاړي دي چې په اقليت کې حسابيږي٠ دلغمان ولايت د قامونو او ولسونو په ريښو کې زياتې مطالعې او څيړنې ته ضرورت دی او په اقتصادي ، جغرافيوي او تاريخي مسايلو کې يې بحث پوره ريسرچ غواړي په عمومي لحاظ د لغمان په ولایت کې د قومونو مختلفې پرګنې پيداکيږي او داسې معلوميږي چې دتاريخ په اوږ دو کې په لغمان باندې ډير مختلف انقلابونه ، تحو ولونه او تطورات راغلي دي ، خو ددې ټولو سره سره بايد ووايو چې اوس هم دلغمان ولایت اکثره کورونه د خټو ، پخې يا خامو خښتو کورونه بې نقشې ابادې او په بې نظمه توګه عمومي ژو ند د مشکلاتو او لانجو سره مخامخ دی همدارنګه اوس هم هلته اکثرا د لمړ ی پيړ ی ددورې دودونه ،رواجونه روان دي ٠

د لغمان خلک د زيات طبعي ذکاوت لرونکي دي او خاوره يې د زراعتي او تخنيکي ښه بدلون لپاره اماده ده ٠ په ډير تاسف سره بايدوويل شي چې په لغمان کې دقامونواو پرګنو د نفوسو تراکم ، بې کاري او بې غوري زړه سوزونکی ده چې د قدرت خاوندان بايد ورته جدي او خاصه پاملرنه وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دلغمان د دترگړو دجامع جومات خطيب او د ازادی د لياري

*مبارز مولوي عبدالمجيد*

خدای بښلی دکتورمحمد سعيد(سعيدافغاني ) چې دلغمان دولايت دترگړو د جامع جومات خطيب مولانا عبدالمجيد مشر زوی دی ، په خپل کتاب (زما ژوند) کې دهغه په هکله ليکي :

زماپلارمرحوم عبدالمجيددلغمان ولايت دعمرزيو دقريې دخيراباد‌په کلي کې هستوگنه درلوده اودمولوي سيداميرځوی وه ، مولوي سيد اميرچې دخپل وخت کره عالم او دښه ملي شهرت او اعتبار خاوندوه دلغمان په کله کوټ کې چې دعمرزيودقريې څخه په جنوب کې تقريباشپږميله لرې موقعت لري اوسيده چې دخپلوشاگردانودرسي حلقه يې درلوده اودخپل عمرزياتره مده يې هلته تيره کړې ده اوپه هغه ځای کې علاوه دتدريس څخه د خلکو د مشکلاتواوپربلمونوپه حلولو کې د زيات ولسي قدرت او اعتبارخاوند وه ٠

مولوي سيداميرهلته کله کوټ ته نژدې دعلي خيلو په کلي کې چې د کوزې ډوپۍ په نامه يادېږي ديو مشهورعالم چې په صوفي صاحب مشهوروه دهغه دلورسره نکاح وکړه،صوفي صاحب په منطقه کې دبا نفوذواشخاصوڅخه وه چې په ډوپۍ کې يې دځلوېښت جريبوپه شا او خوامځکه درلوده ٠

مرحوم مولانا سيد اميرډېرشاگردان روزلي دي چې د هغې جملې څخه د تگاب ملاصاحب فضل اومرحوم دهډې صاحب نجم الدين اخونزاده چې په ملا بزرگ مشهور وه د يادولو وړ دي٠

مولوي عبدالمجيد صيب به قصه کوله هغه وخت چې زه شاگردوم امير عبدالرحمن خان نجم الدين اخونزاده د هغه د مشهورومأذونانو سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تندور خانې په سیمه کې بندي کړی وه ځکه چې هغه دولسي اعتبار او شهرت څخه برخوردار وه ، ملابزرگ چې د خپل وخت ډیر متقي او مشهورعالم وه زه هغه وخت د هغه تپوس ته جیلخانې ته لاړم اوخبر مې ورکړ چې زه دمولوي سید امیر ځوی یم او ستاسو لیدو ته راغلی یم• همغه وه چې زه یې په ډیرشوق وغوښتلم اوپه زیاداعزازیې روغبړ راسره وکړاوشکریې وویست چې دمولانا سید امیرصاحب ځوی دومره شوی دی چې زما پوښتنې ته راځې اوله ما سره یې ډیر لطف وکړ•

زما یادیږي کله چې زه د خپل پلار سره په ورستیو وختو کې تگاب ته لاړم زما پلارد ملا بزرگ صاحب د مقبرې پوښتنه وکړه دهغه قبر یې پیداکړاوداخلاص فاتحه یې پرې ولوستله، د هغه په قبر یوه زړه گنبده ولاړه وه •

وایي چې دمولاناسیدامیرترمړینې وروسته دهغه ځوی مولاناعبدالمجید ډیر وړوکی وه چې د خپل مورنی نیکه صوفي صاحب په کورکې پاته شوی وه،ځرنگه چې مور یې هم په وړکتوب کې مړه شوې وه نو دده تربیه دهغه دمورنی نیا په ذمه واخستله ،چې هغه یوه ډیره پرهیز گاره ښځه وه اواولاد یې نه درلود نودمولوي صاحب عبدالمجیدپه روزنه کې یې پوره پاملرنه او اهتمام کوه •

څه مده نه وه تیره شوې چې دمولوی صیب مورنی نیکه صوفي صیب هم وفات شواوصوفي صاحب بل نارینه اولاد نه درلود او تربوران یې دیر ظالمان وه د هغه د کور مالونه یې چور اومځکه یې ترې ونیوله •

مولوی صاحب عبدالمجید به ویل :زمونږپه کورنی کې زمونږ د پوښتنې څوک نه وه او زمونږ دپلار دتره ځوی محترم محمد شریف خان هم د خپل پلار فتح محمد خان څخه وړوکی پاته شوی وه نو همدا دلیل وه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تربورانو د ناروا په مقابل کې مونږ بې وسې وو ٠

څه مده ورسته زما مورنۍ نياپه ماباندې تعليم شروع کړ،دهيريدو نه ده چې دلغمان د صبراباد مولوي سيدعالم دډوپۍ کلي ته زمونږ پوښتنې ته راغلی وپه مايې ډيره مهرباني وکړه اودنصيحت په طرزيې راته وويل : پلاردې مشهورعالم وه٠ته ضروربايد دپلارځای ونيسې،څه چيرته دکوم عالم سره ديره شه اوصرف اونحوه او نور کتابونه ولوله کوشش وکړه چې وخت درنه عبث تيرنه شي ترڅو ښه عالم درنه جوړ شي٠

هغه ويل چې د مولوی صاحب سيدعالم نصيحت په ما زياد تاثيرواچوه اود ده دلارښونې سره سم مې په زدکړې پيل وکړپه يو ځای او بل ځای کې مې په لږه مده کې صرف نحوه اوبيا نور کتابونه ولوستل اوبيا مې

د منطق اوحکمت د کتابونو په لوستلوشروع وکړه اودوخت د مشهورو عالمانوڅخه مې زدکړه وکړهچې پوره پدې کتابونوکې لايق شوم زيادتره شاگردان به ماته دتدريس لپاره راتلل ٠ما پدې تحصيل اکتفا ونکړه اود تحصيل اوزدکړې په مقصدپه ښيوه،دلغمان په چهارباغ ،قرغيواو مزينه کې ديره شوم اووروسته لدې څخه دتحصيل په مقصد پيښورته لاړم،هلته په پيښورارغشتواواشنغرکې مې دمعنوي ، لوی منطق،حکمت ، تفسير ، احاديث،فقه اصول،ميراث ، رياضي ، تجويد او نورد وخت مشهورعلوم د ښو پياوړو استادانوڅخه ولوستل ٠

وايی چې په هغه وخت کې چا چې به مروج علـوم ولوستل د وخت د مشهورو علماو به ورته تصديق ورکاوه چې د استادی وړدی نوهغه ته به بيامولوي صاحب ويـل کيده او د مولويتوب پگړی به دده په سر باندې مشهوروعلماوپه ول تړله،چې مولوی عبدالمجيدهلته دا افتخار ترلاسه کړی وه ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمولوي صیب عبدالمجیددسفرملګري په دې باوروه چې هغه په ملګر توب کې د پوره اخلاص خاوند وه ده له ملګرواوملګرولدې سره پوره وفاکوله٠
زما مرحوم پلارمولانا محمد سعیدسعید افغاني لیکې چې زما نه یادیږي چې زما دمرحوم پلارمولوي عبدالمجید څخه دې چا شکایت کړی وي ، ده به خپل ملګري ډیرپه احترام یادول اوپه غیاب کې به یې ستاینه کوله همدا وجه وه چې دده ملګرو زماسره زماپه ژوندکې دهغه په خاطر ښه رویه درلوده ،ده به د خپلو ملګرو څخه خوږې قصې کولې او دخپل سفر ملګري به یې ډیریادول اوپدې جمله کې دمولوي محمدابراهیم کامه وال،مولوي الهام الدین چې د لغمان په کڅ کې د کجورملا په نامه یې شهرت درلود،دچهارباغ مولوي عبیدالله،مولوي محمدعالم،او قاضي عبدالقدوس دلغمان دچهارباغ څخه ډیرې ښې خاطرې حکایت کولې،همدارنګه مولوي عبیدالله اومولوي محمدعالم صاحب چې په اول کې دهغه دسفر شاګردان وه چې په نتیجه کې ډیر ښه عالمان شول ٠
دې ویل دکجوروملاصیب په سفرکې دجمعې په شپوکې دیرښه اوخواږه اشعاراونعتونه ویل اوهغه وخت دهغه یو مشهور ورور وه چې هغه ښه متصوف او مشهور واعظ عالم وه،هغه په وعظ کې ژړل په مخ او ګیره به یې اوښکې روانې وې ، دې قصه کوله یووار داسې پیښه شوه چې د کجوروملاصاحب دغه وروپه وعظ کې ډیروژړل خوکله چې دوعظ څخه خلاص شو نو په یوخاص مجلس کې ورته وویل: وروره داڅومره زیات ژاړې ،ژړل ښه کار ندی سترګوته دې تاوان رسوي اوکه نه زه هم کولی شم چې خپل مړپلارپیاخپله مړه مور رایاده کړم او له تا څخه ډیر وژاړم ٠
مولوي عبدالمجید په ټولومروجوعلوموکې تدریس کاوه خوپه منطق او حکمت کې یې ډیرشهرت درلودخو دعمر په اخرکې د دې دتصوف جذبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زياته شوه نويې دتفسير،حديث،فقه اوتصوف علومو مطالعه زياته کوله همداوجه وه چې تګاب مشهورمتصوف اخونزاده صاحب څخه يې دقادرې طريقه وکړه،ددې طريقې په ټولو اذکاراو اورادوکې د مازونۍ مرتبې ته رسيدلی وه او د زياتو مريدانو او مخلصانو خاوند وه٠
څرنګه چې دښه تقوا اوعلم خاوند وه نوخلکو دی مجبورکړچې د لغمان ولايت دتيرګړومشهوراوجامع مسجددخطابت وظيفه هم په غاړه واخلی،پدې مسجد کې دی ډيرعمرد جمعې په ورځو کې موثرې خطابې ايرادې کړی دی چې دده شهرت دشاګردانواومريد انوله لیارې نه تنها په لغمان اوننګرهارکې بلکه په ټول افغانستان کې زيات شو ،هغه ډير ښه اوازاو دژبې فصاحت درلود او دښه اخلاص اوګذارې خاوند وه ٠نو همدا وجه وه چې هره ورځ له هرې خوا نه وربانديې د روحي او معنوي استفادې په منظورهجوم وه او د ده په ديره کې به لنګرچليده چې تراوسه پورې په لغمان کې زيات خلک دده د وعذ،معقولې اونمونې روايتونه کوي٠
مولوی عبدالمجيد داميرعبدالرحمن دپادشاهي د وختونو قصې کولې چې په دې هکله يې داسې ويل:اميرعبدالرحمن په خلکو باندې زيات رغبت اچولی وه اويواځې دنوم څخه يې خلک بيريدل حتی هغه وخت چې هغه مړشوخلکو دډارې ډيروخت دده دمرګ روايت قدرې هم نشوکولای ٠
مولوي عبدالمجيد دوطن داستقلال اوازادۍ په مبارزه کې پوره اوموثره برخه درلوده اودخپل قومي ځوانانو،مشرانو،شاګردانو او پيروانو سره دانګليسانوپه مقابل کې دډکې،تورخم اوناجي په سيموکې جنګيدلی دی٠
هغه به ويل چې مونږبه دشپې له خوا د انګليسانو په عسکري کمپونو داړه اچوله چې په دې اثربه دانګليس عسکردډيرولانجوسره مخامخ وه ده به ويل:په هغه شپواوورځوکې چې صالح محمدخان عسکري افغاني منصبدار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتې وخوړه مونږ برید پرینښود بلکه د غرونو په څوکو کې مودشپې له خوا اورونه ددې لپاره بلول چې ترڅو انګلیسي عساکر پدې پوه شي چې مجاهدینو دجهادمحازندی پرینښودلی اودمقابلې لپاره حاضر دي •

مولوي صاحب به ویل : دصالح محمدخان دتیښتې په وجه پدغه ورځ او سبا ته د مبارزینو معنویات ښه نه وه خو دیني علماوو د مبارزینو معنویات تقویه کول اوله بلې خوامجاهدینوته دوطن دهرې خوازیات او تازه مرستې رسیدلې اوپه ټولوبریدونوکې ملي مقاومت ښه پیاوړی شو چې پدغه برخه کې دننګرهاراوسرحدونو داوسیدونکوجذبات د هیرودو ندی اونه دساپیوو مهمندو،شینوارو،خوږیاڼو اودباجوړځوانانوسرښندنه به دیاده ووځي •

بایدووایم :چې دبلې خوا دا شکست ددې موجب شوچې د پښتونستان دسیمواوسیدونکي دانګلیس داستعمارپه ضد را وپاریدل او دهرې خوا څخه دمیړانې اوجهاد غورزنګونه په ډیر جوش اوخروش پیل شول ،همداوجه وه چې انګلیس دې ته متوجه شوچې د اعسکري بریالیتوب نورهم لانجې زیاتې کړې اوعمومي احساسات یې ددوئ په ضد وپارول ،نوهمداوه چې دخپل زیات ویرې په وجه یې په هوایي بمبارد پیل وکړ اوغوښتل یې چې په دې ډول په جنګیالیوکې ویره واچوي خوداکار نور هم خلک د مقاومت لپاره مصمم کړل او د شپې له خوایې په انګلیسي عسکري کمپونو باندې ډیرسخت یرغلونه تر سره کړل •

مولاناعبدالمجید ویل چې په دې جهادکې ځما خواږه ملګری او یاران شهیدان شول او یو وار داسې پیښه شوه چې زمونږداوسیدوپه خاصې غونډۍ دبمونواوریدل پیل شول چې دیوبم په اثرمونږ دخاورو لاندې شوو خود نورو مجاهدینو په مرسته ژوندي له خاورو وویستل شوو •

هغه به دجهاد کیسې زیاتې کولې اود خپلو افغانانو میړانه یې په هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې زياته ستايله ۰

ده ويل : افسوس چې دوطن په جهادکې دملی مبارزينوسره کافي وسله اواذوقه نه وه بلکه يواځې ددوئ همت اوميړانه وه چې مقابل محاذ ته يې ماته ورکړه هو، اکثره مبارزينوپه نيم نس اونيمې تندې خپل د جنگ محاذ ساته ،چا سره شلخی توپک ، چاسره تفنگچه، چا سره توره او دچا سره يواځې بيل اوکلنگ وه چې دزمروپه شان به يې په اورحملې کولې ۰

ده به ويل : د ژوبلې اومرگ ډاره دچا سره نه وه بلکه پدې عقيدې وه که ژوندی وې دجهاد ثواب در په برخه کيږي اوغازي به وې او که مړ شوې نو د شهادت مرتبه مومې ۰

ده ويل: دوطن يه جهادکې دمشرقي محاذيوازې ملي مبارزينوپه برکت قوي پاته شواوعسکري شکست اوتيښته دمشرقي خلکوته لکه دهيوا د دنوروسيمود مجاهدينو په شان دمنلووړنه وه بلکه دهغه وخت واقعات او پيښې ددې ثبوت ور کوي چې ملي مبارزينو په يوه دوه ورځو کې عسکري خلاهم ډکه کړه بايد ووايم چې د صالح محمد خان د تيښتې په وجه د ټولوعسکروعسکري طاقت له مينځه لاړنشو بلکه ډير وړو منصبدارانوبې له کوم عسکري تنظيم څخه خپل د جهاد محاذونه کلک وساتل چې په دې جمله کې سورناصري جرنيل دخپلوعساکرو سره د تورخم په محاذ کې په پوره ميړانې جنگيده۰

مرحوم محمد شريف کامه وال چې په نجم المدارس کې مدرس وه دا قصه زياته کوله اوويل به يې چې د صالح محمدخان د تيښتې دوهمه ورځ وه، زه په تورخم کې وم او په لياره کې زخمي شوم حرکت مې نشو کولی خو نصيب دا وه چې په ما باندې سورجرنيل مسلح په اسپ سپور د خپلو عسکري ملگروسره راغی،زه يې پورته کړم اوسور جرنيل دخپل ځان سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل اسپ د شاله خوا سپورکړم اودی په انګلیسانو باندې ډیرله قهره لکه دزمري په شان غړمبیده .

ځماپلارمرحوم دکتورمحمدسعید ( سعید افغاني ) لیکي : هغه وخت چې زه په نجم المدارس کې مدیر وم سور جرنیل ژوندی وه او د عــمرپه اواخرو کې یو ځل مدرسې ته راغی ما په خپله حجره کې میلمه کړاود هغه ډیــر احترام او قدرمې وکړ ، دشپې له خوا دده سره قرانکریم اود کارتوسو ډکه تفنګچه وه .وایي چې دده عادت وه چــې دعمرتر اخـره یـې تفنګچه له ځانه سره ګرزوله .

مولوي محمد سعید(سعید افغاني) لیکي چې ځما مرحوم پلار مولوي عبدالمجید به وعـظ او تبـلیغ دقرانــکریم د ایتونو اواحـادیثو په لوستلو په ډیر خواږه اواز کولواوځای ځای به یې په مناسب ډول دجلاالدین رومي دمثنوي،حافظ شیرازي،ګلستان،بـوستان او داسې نورو کتابونواو دپښتو شاعرانو شعرونه اومنظومې په خواږه اواز لوستلې .

هغه به دمیاعبدالکریم صاحـب اشعارخوښول اوزیات به یې لوستل چې په هغه جمله کې یې دا بیت یې زیات لوسته:

اول دې خوب په بالښتو او بالیـنچو کړه جانانه
اوس دې د ګورچینجي بازي کړي هر اندامه سره

یا د حافظ شیرازي دا بیت :

شب تاریک بیم موج ګرداب چــنین هایل
کجا دانند حال ما سبک ساران ساحل ها

دا شعرونه یې د عمر په اخره کې زیات لوستل:

همه با هوا و هوس ساختـی
دمی با مصالح نپرداختـی

(c) ketabton.com: The Digital Library



همنشینان تو در کنج لحد خاک شدند
چشم عبرت بکشا خواجه اگر انسانی

یا دا بیت:

صبح صادق ملهم کافور دارد در بغل
گر علاج زخم عصیان میکنی بیدارباش

مولوي عبدالمجید یوه وړکۍ کتابخانه درلو ده چې په هغه کې مختلف علوم موجود وه خو ده به په سفرکې خپل قرانکریم ،دلایل الخیرات او تنبنیه الغافلین کتابونه زیات له ځانه سره گرزول اولوستل به یې ده به دتجهید وظایف زیات کول اود جذبوپه حالاتو کې یې تصوفي اشعار ویلې اوکله به یې ورسره ژړلې هم ٠

ده دنظم په کتابونوکې پوره مهارت درلوداو د اشعارو گلچین ور سره وه، ده به دملي اووطني خدمت لپاره هم زیات کار کولو اودضرورت په وخت کې به یې د بیچاره گانوسره لازمه مرسته کوله ، دی دپوره جرت خاوند وه او په وعظ ، تبلیغ ، جلسواو مرکوکې به یې په صراحت خپل تحلیل وړاندې کوه اوکله کله به یې ډیرغټ غټ خلک هم ترټل خو په خکوباندې دده قهراوغصه دده داخلاص اوبې الایشی په وجه بده نه لږیده ٠

دده سره د ډیرو خلکو اخلاص وه او دده د لیدو لپاره د ډیرو لرې ځایوڅخه خلک راتله،دې به کله دتبلیغ اواصلاح لپاره دلغمان درو غرو کلو اوبانډوته هم تللو او هلته به وربانديې زیات خلک را ټولیدل ، ده به اگثره په پښومنزل کوه چې کله به داس سورلۍ هم میسره کیده ٠

هغه دپوره ذکاوت خاوندوه اوډیرو باریکیو ته متوجه کیده هغه به ویل:

دخدای پاک مخلوق سره داخلاص ژوندکول په کاردي اود اخلاص ثمره اونتیجه حتمي ښه په زړه پورې وي ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې دولايت اوکرامت دعوانه کوله حتی ويـل يې زه سره ددمره وظيفه کولو تر اوسه هم دکــوم کشف اومکاشفي خاوند نه شوم ٠

ده دملاې لنگ دشورش په وخت کې هغه وخت چې داميرامان الله خان په ضد انقلاب جوړوه په پغمـان کې يوه لويه جرگه جوړه شوه د خپل قام او د لغمان د ولايت د علماو اودخلکوپه وکالت وکيل انتخاب شواو دهغه وخت په لويه جرگه کې يې فعاله ونډه درلوده ، دې پـه هغه وخت کې پوهيده چې په اميرامان الله خان دکفر فتوا او په دې اثر د افغانستان څخه د هغه وتل ښه کارنه وه٠ هغه سره لدې چې د ديني پاکې جذبې خاوند وه داستعماردسيسوته ښه متوجه وه او د وطن د خير او سعادت لپاره ډير هوسيده ٠

هغه ددين څخه د ناړو استفادې مخالف وه او ديني علماو لپاره يې په خيراتو ژوند کول نه لوريده همدا وجه وه چې هغه به ويل :

کاشکې دينی علماعلاوه د ديانته دخپـل رزق اوروزی برابرولولپاره کار اوکسب هم وکړي او داسې نه چې دين ددنيا لپاره وسيله وگرځوي ٠

دې به ويل : دې عـاجـزاوبيـچاره ته گوره چې خپلې نفقې ته حيران دی خو په قرض او سود هم خير اوخيرات ورکوي او خپل ځان نورهم محتاجوي٠ او ويل به يې چې دې ملا او پيرصاحب ته گوره چې هرڅه لري خو بياهم د يوعاجز او فقير له لاسه خيراتونه اخلي ٠

ده په هرچا باندې دپــوره عاطفې اوصلې خاونــد وه او دروحي جذبې په وخت کې به بل ډول ښکاريده اوپه ځينو حالاتو کې به ورڅخه دتاثر اوانفعال چيغه او کريکه هم وتله ٠

هغه مرحوم مجاهد نجم الدين اخنذاده صاحب ته عقيده درلوده همدا وجه وه چې کال کې بـه يوځل او کـله دوه ځله هډې ته دده قبر د زيارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعا له امله تلو،ده به ویل دا مرحوم د خپل عصرمبارزوه اود وطن د ابادی اوازادی لپاره یې نه هیریدونکي جهادونه اوخدمتونه کړي دي ٠

مولوي عبدالمجیدد تګاب اخنداده صاحب د مخلصانوځخه وه او دهغه د ذهد اوتقوا زیاتې قصې کولې، د نجم الدین اخنداده صاحب د مشهورو ماذونانولکه د سنګرشیخ صاحب ، دبتخاک حضرت صاحب ، د اسلام پورشیخ صاحب پاچا صاحب،دترګړو پاچا صاحب، دسرکاڼو میا صاحب ،صوفي صاحب،چکنورملا صاحب اونوروعلماو د تقوا، اعتباراوشهرت قصې کولې ٠

مرحوم مولانا عبدالمجیدپه کال ۱۳۲۰ه ش کې دژمي په شپو اوورځو کې مریض شو او یو ځو ورځې پس له مریضي حق ته ورسید ٠

**انا لله و انا الیه راجعون**

د ده جنازه په ډېراعجاز پورته شوه او په پوره احترام لغمان دولایت دعمرزیودقریې د خیراباد دکلي په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو٠

دی فانی دنیا ترکه اوحق ته ورسیدخودده دصالحواعمالونقش تراوسه پاتې دی ، اوس مونږ د ده روحي خوښي او ددی دښه اعمالود پیروی اوهغه ته پرته له دوعا ځخه بله چاره نشته ، نوالهی ته مونږته دښې پیروي توفیق راکړې اودده په روح کې دې دخپل رحمت فیضان زیات اودایم وګر ځوې

**امین یارب العالمین**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لغمان لرغوني تاریخ اودجغرافیوي موقعیت

دلغمان لرغوني تاریخ او دجغرافیوي موقعیت په اړه څیړونکواوتاریخ پوهانو ډیرې څیړنې اولیکنې کړي چې پدې برخه کې دهیواد د معاصره څیړونکواولیکوالانوښاغلي شهسوارسنگروال صیب اودښاغلي پوهنیار ظفراهتمام معتبره تاریخي لیکنې اوهمدارنگه د انترنیتي پانو څخه په زړه پورې اوکره مطالبو ته ځای ورکړل شوی چې ددې مطالبو یادونه پدې کتاب کې لا زم اوضروری گڼل کیږي٠

هیله ده ددې لیکنوپه راټولولوسره مودلغمان تاریخ اودهغه دجغرافیوي موقعت په اړه درنولـوستونکو ته دپام وړمعلومات برابرکړي وي ٠

د درنو لیکوالانو لیکنو ته چې په کتاب کې ځای ورکړل شوي دی ، د دوئ تاریخي او څیړنیزې لیکنې او همکارۍ دیادولو اومننې وړگنم٠



(c) ketabton.com: The Digital Library






*داستادشهسوارسنګروال صیب او نباغلي ظفراهتمام دڅیړنیزو،معتبرو لیکنوڅخه:*

# لمپاکا-لمغان ( لغمان)

## جغرافیوی موقعیت :

لغمان دافغانستان د ختیځ ولایتونوڅخه دی چې شمال ته یې بدخشان ،سهیل لورته یې ننګرهاراوکابل،ختیځ لورته یې کونړونه اولویدیزپلوته یې دکاپیسااوکابل ولایتونه پراته دي،دکیشت اوکاشمونډغره لویدیځ ته دلغمان ولایت دجنوب له خوارانیولی دی هرڅومره چې دلغمان ولایت د جنوب له خوادشمال په لورپرمخ لاړشي دځمکې جګوالی یې زیاتیږي۰

لغمان دځینې روایاتوله مخې دکابل څخه تر پیښوره ټوله سیمه رانیوله داځای دهغه پخوانی لیارې په سرپروت او یومهم دمه ځای دی چې له سروبي څخه د باد پیچ یا باد پښ غاښي را پدې خوا په زیړانې دښته کې راتیر شوی اود الیشنګ اوالینګار د رودونو دمخامخ کیدو په نقطه کې کوم ځای چې د نیسا یا لرغونی ښار پروت وه رارسیږي او له دې ځایه ادینه پوریا دینپور،نګراهاراوبله څانګه یې دګمبیري په دښته کې کنړونوته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغځيدلې ده ٠

دلغمان پراختيا ۷۲۱۰کيلومتره مربع ده اودنفوسوشميره يې ۳۱۰٦۵۱ کسانو ته رسيږي اوپه يو کيلومتر مربع مځکه کې يې ۴۳کسه وګړي ژوند کوي ٠دلغمان ولايت څلور ولسوالی لري چې د قرغيو ، الينګار ، اليشنګ او ننګراج ولسواليو څخه عبارت دی همدا رنګه دوه علاقه داری لري چې دولت شاه او منډول نوميږي٠د لغمان ولايت ټول کلي ٦۴۰ دي ٠

**د لغمان لرغونی تاريخ :**

لغمان يومهال دالينايانودمربوطاتوڅخه وه اوهمدا شان دبودائي مدنيت ددې سيمې مرکزيت بلل کيده او د اشوکايا دهندي يوريانو د کورنۍ پاچا د دورې ډبرليکونه اوهمدارنګه د درنټې ترخنګ ديو شميربودايي اثارو درلودونکي دي هغه چې دڅيړونکو اوپوهانو دپوره پاملرنې وړدي ٠

لغمان د افغانستان دنورو ولايتونو په څېر يومهم ولايت دی چې اوږد تاريخ لري.دپخوانيواو زړو متونوله مخې دلغمان لرغونی نوم "لمپاکا" دی اود ګندهارا له هغو مهموښارونوڅخه دی چې دټکسلانه(تکزيلا) را واخله تر پېښوره او بيا تر کاپيسا او باميانوپورې به پرې تګ اوراتګ کېده ٠

هغه مهم ښارچې په دغه لويه لاره اباد وو"نيکايه" يا "مينسه" په نوم يادېده.لرغونپوهانودڅيړنې له مخې ددغه ښاربنسټ هغه مهال د سکندر له خواکېښودل شو چې نوموړی د افغانستان د شمالي سيمو د نيولونه وروسته دوهم ځل د هندوکش جنوب د پنجشير د سيند په اوږدوکې له کاپيسا نه دنجراو اوتګاوله لارې"لمپاکا" يعنې لغمان ته راورسيد ٠

د لغمان ولايت د ختيزو سيمو په لاره کې د يوناني سکندر لپاره دپام وړوو. نو ځکه يې د "مندوړ" او چارباغ تر مـينځ کرغيو ته نږدې د "نيکا" په نوم ښار ودان کړ. يوناني سکندردبري په موخه خپل پوځ په دوه برخو ووېشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې یوه برخه یې له لغمانه دده په مشرۍ دکنړله لارې دسوات په لوراو دلښکرو دویمه بـرخه یې د جنرال "پرویکاس" او"هغستیون" په مشر تابه د کابل او لغمان سیند د جنوب اړخ لورته ترخیبردرې پورې پر مخ لاړچې په پای کې دسکندر ټول ځواکونه په "اندس" یعنې دسیند رود په برخه کې یو ځای شول. ٠

دلغمان دلرغونتوب یوه بله مهمه بېلگه دا ده چې دلغمان دپلازمېنې نه ښایي د درې میلوپه واټن لویدیزلور کرغیو ته نږدې د"شله ټك" دغره په لمنه کې هغه کښل شوي ډبرلیکونه چې په ۱۳۴۳ لېږدیز لمریزکال ترسترگوشول ددغوډبرلیکونوله "ارامي" لیکدود نه دا ډاگیزه کیږي چې د "اشوکا "د مهال په واکمنۍ کې ښایي کښل شوي وي نوځکه خو دغه لیکدود دهغه مهال یو ټاکلی زمان په گوته کوي٠

دغه دوه ډبر لیکونه چې د یوه ډبر لیك په څلورمه کرښه کې د (لمکان (Lemkan Jiti جتې نوم گورو له دې څخه دې پایلې ته رسیږو چې لمکان (وروسته لمغان) داوسني لغمان لرغونی نوم دی. که څه هم له دې نه دمخه د لمپاکا په نوم یادېده٠

اشوکا (د بندو سارا زوی او د چندراگوپتا لمسی) دموریا د کورنۍ دریم واکمن وو چې له هندوستان نه را واخله ترارغنداب پورې ځمکې یې لاندې کړې وې.

په ۱۹۴۹ زیږدي کال دپوهاند "هنیگ" په زیار او نوښت د اشوکا په "ارامي"ډبرلیك چې په لغمان کې ترلاسه شوی ووپه دې اړه یوه اوږده اوهراړخیزه مقاله ولیکله شوه چې د لرغونپوهانو له پاره ډېره دپام وړ وگرځېد٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنگه چې اشوکایوروحاني شخصیت ووتل به یې دټولنې اخلاقي اړخ ته پاملرنه کوله نوځکه به یې داډول ډېرلیکونه کښل اوپه داسې یو ځای کې به یې دا کارکاوو چې دهرلیدونکي پام به ورته را گرځېده٠ له لغمان نه سربېره دا ډول لیکنې او انځورونه په کندهار، ننگرهار (درونټه) او ټکسلا کې هم چې ورته ښه لري کښل شوي دي٠

مشهور څېړونکي او تاریخپوه " بیلو"* وایي په هغه مهال به هندوانو گندهارا ته د "شمال جنت" وایه خو دبده مرغه چې د چنگېز د تاړاکونو له بابته هغه ډېرین ښارونه چې د اوسني مهال دختینو خښتو په ځای ډېرینې خښتې پکې کارول شوې وې (اوهم هغه انځورونه اوتصویرونه چې پکې ایستل شوي وواوځانگړی ارزښت یې درلود) له مینځه لاړل ٠

د گندهارا اوسیدونکو هندوانو ته چې یو مشهور ټاټوبی یې لغمان وو که له یوې خوادغه سیمه دطبعي ښکلاله بابته په زړه پورې وه خوله بلې خواورته دمذهبي دودونو له کبله هم د پام وړ وه٠

د ښېلگې په توگه په لغمان کې دکندنو له مخې کوم اثارچې د بودیزم او برهمنیزم د مذهبونو په اړه تر لاسه شوي دډېر ارزښت وړوو نوځکه یې د دې دوه لاملونو له پلوه گندهارا د " شمال جنت " وگانه٠

دمخه مویادونه وکړه چې لغمان په یوه لویه لارپروت ولایت دی اوپه لرغونې زمانه کې هم له سکندر نه را واخله بیا ترگوډ تېموره پورې تیري کوونکي دغې سیمې ته راغلي دي. ٠دتېمور په اړه ویل کیږي چې دپنجشیرله لارې د لغمان الیـــشنگ ته راغلی واوغوښته یې چې د لغمان نورستان (بلورستان) ته ځان ورسوي خو نورستان ته په لاره کې یې لس زره سر تیري له مینځه لاړل نو بیا یې دنورستان دسیندپه غاړه دالیشنگ په ناجل کې یوه کـلا ودانه کړه چې اوس هم د تېمور کلا په نوم یادیږي ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



گوډ تېمورځکه په ډېرې چټکۍ هغه مهال خپل ځواکونه تر شا کړل چې سرتيرو يې په هغوغرونو اوگړنگونو کې جگړه ونشوه کولای اوهره گړۍ له مينځه تلل نو غوره يې وگڼله چې له دغه سيمې نه پښې سپکې کړي. نومونړي د کټورپه دره کې هم يو ډبر ليـــك کښلی دی چې دده د تيري نښه يې گڼلای شو ٠

دارنگه د لغمان په اليشنگ دره کې د امير حبيب اله خان په مهال يو ډبرليك چې د تاريخ نه دمخه پېر پورې اړه لري ترسترگوشوی دی چې پخپله امير هم هغې کتيبې د ليدلو له پاره ورغلی وو چې عکس يې بيا دمارچ ۲۵ نېټه (۱۹۱۷م ) چې دوري له پنځمې (۱۲۹٦ ش) سره برابره وه دسراج الاخبار په خپرونه کې خپورشو ٠

کومې انځورشوې کرښې چې په دغه ډبرليك کې گوروښايي چې ۵۰۰۰ کاله دمخه دپخوانۍ ډبرې پېړيو پورې اړه ولـري څيړونکي په دې اند دي چې دغه کښل شوې او انځورشوې کرښې له هغو کرښو سره ورته دي چې دسمنگانوپه شپاړس (١٦) کيلو متري کې ترسترگو شوي٠

د تېرې خبرې په ټينگار نه يوازې دگوډ تېمور لښکرې نورستان ته نه دي رسېدلي بلکې د سکندر پوځونه هم نورستان تـه پـه لاره کې په گونډو شول داځکه چې دنورستان طبعي اوجغرافيوي جوړښت داسې دی چې هېڅ بهرني پوځ نه دی ايل کړی٠

څېړونکودامنلې چې دسکندرپوځونه بلورستان ته نه دي رسېدلي خوهغه وخت چې سکندرلغمان ته ورسېدلکه دمخه موچې وويل کرغيو ته نږدې يې يو ښار ودان کړ اودغه ښار چې " نيکا Naica نوميده هغه ښارته نږدې ووچې د" نيسا" Naisa په نامه يادېده چې دغه ښارد شرابو د ښارپه نوم مشهورشو او مذهبي ارزښت يې هم د پام وړوو. وايي چې دغه ښار هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای ته نږدې وو چېرته چې د الینگار او الیشنگ دواړه سیندونه یوځای کیږي۰ځنې څېړونکي وايي چې د "نیسایا" ښار د کونړ په چغسرای کې ودان وو او هغه ځای ته نږدې وو چې داسمار او پېچ سیندونه سره یو ځای شوي دي ولې ځنې لرغونپوهان وايي چې دغه ښار د ننگرهار په اډه نومي ځای کې اباد وو.


"موسیو فوشه" په دې اند دی چې د "نیسه"ښار په کوزني لغمان کې چېرته چې دالینگاراوکابل سیندونه سره یوځای شوي دي ودان ووچې دښاردساتونکي نوم " دیونیسه " Diwnaisah په تاریخ کې "دیونیزوس هم راغلی دی ۰ " Diwnaisyus په لرغونو تاریخونوکې د الینگاراو الیشنگ یادونه ډېره شوې دي آن په ویدي سرودونو کې هم دهغولسواریایي ټبرونو دنومونو په لړکې چې دراوي (پنجاب) د رود په غاړه سره نښتي وویادونه کړې. دا ټبرونه الینا (الینگار او الیشنگ)، بهالانه (د بولان ددرې خلك)، شیوا (دسیند غاړې خلك)،پورو (د گندهاراشاوخوا خلك)، انوپکتیه (دپښتنو ټبر) او نور وو ۰ولې ځنې دبلورستان خلك هم الینابولي. یونانیانوځنې میتولوژیکي پېښې له یونان نه افغانستان ته راوړي دي لکه چې دپرومته زندان یې د هندو کش په یوه سمڅه کې انځور کړی دی۰
ولې پخواتردې چې یونانیان خپلې استورې افغانستان ته راوړي زموږپه هېواد کې د

**(مهشوارا Mahshwara)**

په نوم د نمانځنې (رب النوع) استوره وه چې د لوړو غرونو ساتونکی یې باله.نو ویلای شوچې"دیونیزوس" د شرابو یوناني رب النوع نه وو بلکې داهماغه "مهشوارا"دغرونوساتونکی دی چې د غرونوپه سرونو یې انځورونه تر سترگو شوي دي۰

(c) ketabton.com: The Digital Library





ځنې ځېړونکي دلغمان دلرغونتوب په اړه دا خبره هم کوي چې نوموړی ولایت دافغانستان دځنو نوروسیمواوولایتونو په څېردهندوکش دلرغوني تهذیب له وارثانوڅخه دی چې په دوي کې خنجان ، اندراب، شتل، سالنگ، پنجشیر، نجراو،تگاو،کاپیسا،لغمان،نورستان، چترال،سوات، باجوړ،د پامیردغره په لمنه کې میشت اوسیدونکي اونوردبیلگې په توگه یادولای شو۰

د( هیوان خنگ ) له څېړنونه ډاگیزه شوې چې داومې زیږدي پیړۍ په نیمایي کې له کاپیسا او باگرام نه نیولې ترلغمان اوننگرهارپورې ددې سیمو اوسید ونکودبرهمنیانو د دودونو په رڼا کې خپل ځانونه په ایرو لړل او دا کاردکابل برهمن شاهانو هم کاووخود صفاریانود گواښنې له بابته دهیوادجنوبي سیمې له دغوپیروانواوپلویانوڅخه پاکې شوې او د غزنویانو په مهال کې له لغمان اوجلال ابادڅخه هم ددغه دود لمن ټوله شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړی وايي :

"زه چې ٦٣٠ زيږدي کال په دوبي دپنجشيرد رودپه غاړه ننګرهارته تلم د کابل او پنجشير درودپه ګډونځي چې ورتيرشوم دکيڼ لاس خواته مې دلمپاکا (اوسنی لغمان) ولايت وو. تر لمپاکا چې ورتيرشوم "نګاراهارای" (ننګرهار) ته ورسيدم ٠

کله چې دتګين کورنۍ الپتګين غزني ونيو او د"لويکانو"کورنۍ يې تر شاکړه نوموړی يوکال په غزني اوزابلستان کې واکمن وو. دده له مړينې وروسته بيا غزني اوګرديز پاچا "لويك"د کابل شاه د زوی په مرسته تيری وکړ خو دسبګتګين له لاسه يې ماته وخوړه.

سبګتګين پوه شوچې دپښتنوپاچالويك سره دده جګړه پای نه لري نو د خپلې اوښياری له کبله يې له پښتنو سره خيښي او خپلوي وکړه اوځان يې دهغوي زوم کړ.بيا نو دپښتنوپه مرسته يې بست،زميداور،تخارستان ، غور، باميان او زابل ونيو اوهمدارنګه دکابل درود په غاړه دلغمان په سيمه کې د"جيپال"له لښکروسره مقابله وکړه او دهغه سل زره لښکريې د پښتنوپه زورمات کړ اوتر پيښوره پورې ځمکې يې لاندې کړې په دې اړوند نامتو تاريخپوه عتبي او ابن اثير هم کاږلي دي چې غلجي پښتنو له نوموړي سره ډيره مرسته وکړه او دده ملګري شول٠

هغه وخت چې سلطان حميدلودين دملتان واکمن وو نو له لغمان نه تر ملتانه داټولې ځمکې دده په واك کې وې. دنوموړي دواکمنۍ هغه لوری چې تر لغمانه پروت وو په"حدود العالم"کې داسې راغلی دی: "دا هغه سيمه وه چې د "لمغان" دسيندپه غاړه پرته وه،لمغان يو ودان هېواد وو، دسوداګرۍ چارې په کې پرمختللې وې او ډېر سوداګر په دغه ښار کې مېشت اواستوګن وو. ډېرو او سېدونکولمغانانوبه بوتانوته عبادت کاوو. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمپاکا کې ډېرې وریځې کیږي هوایې نرمه او پسته ده له ساز او اوازسره مینه لري، اوښیاران او تېز فکره خلك دي.

دکابل مجلې ٥ کال ٦گڼه کې هم دلغمان ولایت په اړه داسې لولو:"ددې سیمې ځنې برخې په هغه مهال کې دکاپیسا دپاچا ترلاس لاندې وې چې جنوب ختیز ته یې د ننګرهار لوی ښار پروت دی.

دارنګه یوځل بیا دحدودالعالم یادونه کوو چې د لغمان په اړه یې لیکلي دي: "دینور لمغان دسین پردابله غاړه دلمغان دښارپه برابریوبل ودان ښار وو چې دخراسان سوداګر هلته اوسیدل.

د اسلام د سپیڅلي دین له خپرېدو نه وروسته لغمان (پخواني نومونه لمغان اولمپاکا) هغه اوسنی نوم دی چې دلرغونونومونو په ځای اوس په همدغه نوم یادیږي . یوه ښیرازه غوړېدلې سیمه ده چې له پخوانه اباده او سمسوره وه.

هغه کډوال چې د هیواد له بیلا بیلو سیموڅخه راکډه شوي دي یو شمیر ډېرد بیلابیلوقومونواو توکمونوخیلونه په لغمان کې ودان دي د اوسنیو سر شمیرنو ل ه مخې په سلو کې ۷۳ پښتانه ،په سلو کې ١٤نورستاني (که څه هم اوس نورستان مستقل ولایت دی) په سلوکې ۱۲ پشه یي (شاړي) ،همدارنګه نور وروڼه قومونه لکه تاجك، عرب، هندوان، ګوجر ،سادات او نوردې ولایت اوسیدنکي دي.پلازمینه یې دمهترلام ښاردی اومهمې ولسوالۍ یې الینګار،الیشنګ، قرغه یي اودولت شاه نومیږي.

دلغمان د ایادې شوي اولسوالۍ ځکه مشهورې دي چې دسکندر پوځونه کرغیوته نږدې په یوه ودان ښارکې پراته وو . (الینا) لکه څنګه چې یې دمخه یادونه وشوه د آریایي لسو قبیلو څخه یوه قبیله وه چې په الینګار ، الیشنګ، نورستان او د لغمان په نورو سیمو کې استوګن ووچې اوس یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ( گار- شنگ ) د " الینا " لرغونی نوم خوندي کړی دی.
دارنگه دلغمان د پلازمینې مهترلمك (مهترلام) په اړه هم ویل کیږي چې پخپله هیوان څنگ هم داگست په ۱۵ نیټه په (٦٣٠ زیږدي) کې د کاپیسا له لارې نه دې ځایته رسیدلی دی.
ده ته ډاگیزه شوه چې دلته د لسوتیگو ( ډبرو ) په شاوخواکې عبادت ځایونه جوړ وو چې د سیمې نوم یې"لان پو"( چې په سنسگرت کې لمپاکا) و. دلته دوه ډبر لیکونه هم ووچې دیوه ډبرلیك په دریمه کرښه کې د"لمك" توری کنبل شوی وو.ښايي چې دغه دمهترلمك اويا مهترلام نوم وي اويادا چې"مهترلام" نوم دی او"لمك" (لمکان=لمغان =لغمان =لمپاکا) یې تخلص دی چې په زړومتونوکې لمك =لمکان د اوسني لغمان لرغونی نوم دی٠
سکندرچې کله هندوکش ته راورسید دغرونو دالړې یې دنړې پاې وگاڼه او دایې" قفقاز"دهندي قفقازپه صفت " کوکاکوس اندیکوس "وباله چې دهندوکش اوسنې نوم هم "اندیکس"نه مینځته راغلی دی٠
هره خبره چې وي وي به خو کله چې سکندر دلته را ورسید ددې ښکلي (بکوس "Bacuse) ښار پاچا
چې د شرابو رب النوع وو له نوموړي سره ولیدل اوغوښتنه یې ترې وکړه چې ددې ښار د اوسیدونکو ازادي ته درناوی وکړي٠
سکندربیا د"بکوس"غوښتنه اووړاندیزومانه نوځکه یې دتیري نه لاس واخست ... هغه مهال چې دسکندرپوځونه دلغمان له دغې سیمې نه په دوه برخو وويشل شول چې يو شمیریې دسکندر په مشرۍ دکونړله لارې سوات ته او بـله ډله د خیبر له لارې روانــه شوه. دا دواړه ډلې په اټك کې یوځای شوې او د ټکسلا پاچا " امبي" ته یې ځواب ولیږه ،هغه هم له

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکندر سره روغه جوړه وکړه خو د لغمان د واکمن په څير يې خپل وړانديز ورغبرگ کړ٠

ځنې پدې اند دي چې لمك د لغمان لرغونی نوم دی او" مهتر"دمشرپه مانا دی ."مهترلمك "ياني د لغمان مشرياپا چاوه ٠دويدي په سندروکې چې تقريبا ١٤ سوه کاله تر مـيلاد د مخه د اريايي روحانيو نو اوشعراوو له خواجوړ شوي دي ، د لغمان نوم د"لامهك"په شكل ذكرشوی دی "سرمحقق بختانی ، ژبځيړنه، ٢١٠ او ٢١١مخونه داســې روايتونه هم شته چې هغه مهال لغما ن په لراو بر وېشل شوی و. کوزنۍ برخې ته يې "بهـالانا" ويلې اوبرنۍ برخې ته يې"لامهكا".دلامهكا اوسنی نوم لعمان اودبهالانا اوسنی نوم"بولان" دی چې دکرغيو ولسوالۍ پورې اړه لري ښايي دا خبره هم د حقيقت نه لری نه وي چې پردې خاوره به دا دوه توکمه اباد وو٠

**مهترلمک ع**

مهترلمک د نوح (ع) پلاردی ښځه يې قيـنوش د نوح مـوروه . او په حقه پيغمبرتير شوی دی نوح ع دحضرت ادم ع دکوزيدو څخه (١٦۴٢) کاله وروسته پيغمبري ته رسيدلی . دلمک ع پلار « متوشلخ»، نيکه يې اختوخ اوغور نيکه يې« يارد» وو؛کله چې د نوح ع کښتۍ کينا سته يو شمير وگړي د مهترلمک (ع) اودده ورور نورلام ( رح) او خوريې بي بي حاجرې سره يو ځای د نورستان په لاره اوسني الينگار ته راغلل ،خلک يې حق دين ته رابلل اوبيا په بيلابيلو ځايونو کې ميشته شول ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاریخي روایات وایي چې لمک په لغمان کې وفات شو،خوراووروړېې هم په الینګار کې وفات شوي چې مشهورزیارتونه پرې جوړدي خورېې دهرمل اومیداني ترمینځ د بې بې حاجرې په نوم زیارت لري او وروړېې نورلام صا حب د نورلام صا حب دره کې په زیارت کلي کې ښخ دی ۰

په مهترلام بابا،سلطان محمودیوه ښکلې ماڼۍ جوړه کړې،ځکه هغه ځو ځله خوب لیدلی ؤچې دی پیغمبردی اوپه دښته کې پروت دی همدارنګه د مهترلمک د پیغمبري په هکله د مشهور روحاني شخصیت د کچورې ملا صاحب وېناوې چې تل بې ویلي: هو!مهترلام با با په حقه پیغمبر دی هم د ثبوت وړده ۰

دمهترلام بابا دمزارخواته یوسترباغ اوحضیره(هدیره)ده په دې هدیره کې ستراومشهورکسان لکه :یوسف خان دغازي محمد نادرخان شهید پلار،شهزاده فریدون،غازي محمدشاه خان بابکرخیل،فیض محمدخان او نورغازیان ښخ دي او زیارتونه بې خلک له لرې ځایوڅخه راځي پخوا به له هند او پنجا ب نه هم دلته خلک او ګرځندویان راتلل دپنجشنبې او جمعې په ورځوبه په ځانګړې ډول دلته دساز،سندرو اومذهبي موسیقۍ په لس ګونو ډلې موجودې وې شپه او ورځ به بې مینه وال په وجّداو مستۍ راوستل دغه دوداوس هم په پسرلي کې لمانځل کیږي ۰

**دلغمان دیني علما ادب پوهان اوشاعران:**

دلغمان په پخواني اواوسني شاعران یې حبیب الرحمن مهدي،میرمن سایره،صدیق کاوون توپاني،مرحوم ننګیال، شهسوارسنګروال ،عزیز تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library



، بارق شفيعي، نورمحمد غمجن ، محمدهاشم سنگر نيازی، سميع الدين افغاني،عاشق اله فريا د،ناهيد،ملکي خزان،اسماعيل اړم ، شاه محمد پيننا، عبدالرشيد مخلص،عبدالوکيل مخلص،ډاکترمتولي همدرد،حفيظ اله همت،آرش ننگيال،محمدشعيب حيدري،متين تيگړيوال،شريفه هاشمي، اسدالله مسکين اونوردي٠

په ولسي شاعرانوکې ملاعبدالحنان،محمدنور،شيخ احمدخان، حياحان، الينگاری، پټاڼ،مستري حبيب الله حبيب، محمد عالم حيران،غلام سخي اتمر ، نصر اله ناصر ،عسکر چالاک، مختار،بسم اله گلکاريوال،عارف گاډيوان،غمخور،انجينرمحمدعالم قرا،عبدالواحدغمخوار،نضراب خان ، اختر محمدکوچی،ملنگ باغبان،ملک شيرعلي ،تواب ترابي،عبدالغفور خان ،رحيم الحق ورنټاوال،محمدالياس،غلام نبي دردمند،گلآقا رښتيتوال ،ولي محمد ترابي ،ايمل احمدظاهر،مختار الحق ،ملامحمداجان،بسم اله چلمټيوال،ښايسته گل،گل محمد موټړوان،شيرآغاارماني اونورچې دځينو شعرونه دسندرو په کسيټونو کې هم خوندي دي٠

د سياسي، ديني عالمانو او بانفوذه شخصيتونو په برخه کې يې د عالمانو تعداد هم ډېر دی، چې ددغو با نفوذه عالمانو او اجتماعي شخصيتونو له جملې څخه علامه، دکتورمحمد سعيد سعيد افغاني،سرمحقق زلمي هېوادمل ،ډاکترمحمد ظاهر،جنرال عبدالقاهر خان ساپی، عبيد اله محک ،مولوی نقيب الله نقيب ، ډاکټر محمد حسن کاکړ، ميرمحمد قاسم لغماني،عبداله خان افغاني نويس،پوهنمل اسماعيل يون ، عزيز تحريک

(c) ketabton.com: The Digital Library



،کاوون کاکړ،انجبنرمطیع الله مطیع خروټی ،نګارګر ،خدایداد بشرمل ،محمد حنیف اتمر،عبدالهادی قریشي ، یارمحمد نعیمي،محمد آصف تایب،عارفه عمرلور،متین یوسف زی،عبدالخالق حسیني،طارق بزګر،غازي الدین ګوهري،عبدالمعید هاشمي ، میرویس جلیل، نورمحمد حیدري، ډاکټر کبیر رنجبر، محمداله الکوزی،کبیرالینګاری،مستعلي نیازی،نورالحق شمش،مبارز ساپی ،اکمل ساپی ، فریدبزګر، قادرهوتا،اسداله دانش ساپی،نظرګل خاشع، امین اله سدید، ظاهرالینا، محمدطاهر کلمانی اونور یادولای شو .

د تمثیل په برخه کې د مرحوم منان ملګري ، ممنون مقصودي ، سایره مقصودي،داؤد مقصودی، متین تیګرېوال اونیازالدین خنجر.په یاددونه بسنه کېږي.

دکمال او کرامت دنه هیریدونکو څیرو څخه ملا اضغر ، رام کیشنګ ،بـاړو، مجـنون شاه،طوطي شاه ، مستان شاه ،ع لي لیږَلنګ،حضره دین اوعظم دین یادولای شو.

دموسیقی هنربازارپه لغمان کې تل تودساتل شویدی پخواني مشهور سندرغاړي: ملاګی، ګلکی، ګلو، قاسم جان، پایندی ، محمداشرف، ملاشاګل، سلطان عزیز جوشي، مرحوم احمدظاهر،قاري قصـه خوان عبدالحلیم ،حیران ،غلام محمد، صبور بصیري،ولي ګی ،هفته ګل،ماجیتي،خانګل،جهان،حضرت علي، نسیمه قشنګ او ډ یر نور وتلي سازیان دي چې په سیمه کې ډیرشهرت او مینه وال درلودل

(c) ketabton.com: The Digital Library

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**